# آسان نماز

(افغاني پښتو سره)

## ببلمائه (لمونځ نه کوونکی) به دوزخ ته ځي

مؤلف مولانا محمد عاشق الٰہی بُلندشہری رحمہ اللہ

هغوي به په جنتونو کې (ناست وي) له ګنهګارو نه به پوښتنه کوي، د مجرمانو نه چې تاسو په دې دوزخ کې څه شي واچولئ؟ هغوي به جواب ورکوي چې مونږ لمونځ نه کولو ، نه مو مسکینانو ته ډوډۍ ورکوله (المدثر ۴۰تا۴۴)



دین د خپل پلار ابراهیم (علیه السلام) قائم کړئ همدې (الله تعالی) ستا نوم مسلمان اینبودی دی، د دې (قرآن کریم) نه مخکې او په دې کې هم، په خاطر چې پیغمبر په تاسو ګواه شي او تاسو د ټولو خلکو ګواهان جوړ شئ (**الحج ۷۸**) په دروغجنو دې د الله تعالی لعنت وي (**انعام ۶۱**)

ناشر: محمد اقبال یو، کے

اې زما زامنو ! تاسو لمونځ قائم کړئ د ښو کارونو سپارښتنه کوئ او له بدو کارونو څخه منع کوئ، کوم مصیبت چې دربانديړ راشي، نو صبر وکړئ بېشکه چې دا ډېر دهمت والا کار دی (لقمان: ۱۷)

کومو خلکو چې په خپل دین کې ډېرې لارې ویستلې دي او مختلفې فرقې ترېنه جوړې شوي دي، ستاسو له هغې سره هېڅ کار نشته د دوی کارونه پوه شه او الله تعالی، بیا چې دوی څه کول د (هغو ) به خبر ورکړي (الانعام: ۱۵۹)

# آسان نماز مترجم (پښتو)

## او څلوېښت مسنونې دعاګانې

مؤلف

## مولانا محمد عاشق الهی بلند شهری

نوم:__________ دَ مور نوم:__________

پوهنځی/ مدرسه:__________________

ادرس:__________________

تاسو وفرمایئ که چرته تاسو د الله تعالی سره مینه کوئ، نو تاسو خلک زما اتباع وکړئ الله تعالی به ستاسو سره مینه شروع کړي او ستاسو ټول ګناهونه به درته وبخښي او الله تعالی ډېر لوی بخښونکی او ډېر خورا عنایت (پیرزو) کوونکی دی
(آل عمران: ۳۱)

په تاسو کې دې یوه ډله داسې وي چې خلکو ته دې د نیکۍ حکم کوي او له بدیو څخه دې منع کوي (آل عمران: ۱۰۴)

تاسو غوره امت یاستئ کوم چې د خلکو د (هدایت) لپاره پیدا کړل شوی دی چې تاسو به د نیکۍ (ښه عملونو) حکم ورکوئ او له بدیو څخه به منع کوئ
(آل عمران: ۱۱۰)

د هغې سره هېڅ کوم څوک شریک نشته ماته همدا حکم شوی دی او زه د ټولو نه لومړی مسلمان یم (الانعام: ۱۲۳)

او کوم شخص چې د الله تعالی د نازل کړي حکم مطابق فیصله (او حکومت) نه کوي، نو بس هماغه خلک کافران دي (المائده: ۴۴)


## جمله حقوق عام دي



د کتاب نوم: آسان نماز (مترجم)

خپرونکی: محمد اقبال

پښتو ژباړه: محمد فهیم عاطف

تصحیح (پروف): مولوي ولي الله احسان

چاپچارې: وحیدي کتب خانه (پښتونخوا)

هدیه: تقسیم في سبیل الله

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د لوی څښتن تعالی په نامه يې پيلوم چې ډېر مهربان او رحم کونکی دی

## مقدمه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَاهَادِيَ لَهٗ وَأَشْهَدُ أَنْ لَّاإِلٰهَ اِلَّااللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، أَمَّا بَعْدُ: فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ وَشَرَّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ والضَّلَالَةُ فِي النَّارِ. وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةً ؕ قَالُوْٓا اَتَجْعَلُ فِيْهَا مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا وَ يَسْفِكُ الدِّمَآءَ ۚ وَ نَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَ نُقَدِّسُ لَكَ ؕ قَالَ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ (البقرة: 30)

**ژباړه:** ”او کله چې ستا پروردګار ملائکو ته وفرمایل، چې زه په ځمکه کې یو خلیفه جوړونکی یم، نو هغوی وویل: چې داسې څوک ولې پیدا کوې، چې په ځمکه کې به فساد کوي او وینه به تویوي او مونږ ستا تسبیح، حمد او پاکي بیانوونکي یو. الله تعالی ورته وفرمایل: چې زه په څه پوهېږم، تاسو پرې نه پوهېږئ“.

وَ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَ رَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ ؕ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ ۖؗ وَ اِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۵﴾

(الانعام: 165)

**ژباړه:** او هغه هماغه دی چا چې تاسو د ځمکې ځای ناستې جوړ کړئ او ستاسو نه يې ځينې په ځينو باندې په درجو کې پورته کړل، چې په هغو شیانو کې ستاسو ازمابښت وکړي کوم يې چې تاسو ته درکړي دي. بېشکه ستاسو پروردګار زر سزا ورکونکی دی او بېشکه ستاسو پروردګار خورا بښونکی او ډېر مهربان دی.

# خلیفه

د خلیفه معنی ده: نائب/ځای ناستی د دنیا په اعتبار سره خلیفه او نائب هغه چاته ویل کېږي چاته چې د ځان نه باندې یعنې پورته شخص له لوري څه اختیارات یا واک ورکړل شوی وي، هغه په خپل دې زیرِ نګرانۍ کې په خپل سلطنت کې د دې اختیاراتو د استعمالولو تر ډېره حده پورې واک لري، خو بیا هم دغه اختیارات به د خپل پورته لوړ شخص د اصولو او د هغه د خوښې سره سم استعمالوي. هغه په خپله خوښه باندې په دې سیمه کې یا په دې سلطنت کې کوم بل نظام نه شي پېش کولی، بلکې د پورته حاکم له لوري نه چې کوم نظام ورته ورکړل شوی وي هماغه نظام به چلوي د دې تابع به وي او دا ورباندې لازم دي. که چېرته د ورکړل شوې لائحې او کړنلارې په ادایګۍ کې غفلت یا سستي وکړي او د ورکړل شویو لارښوونو څخه مخ واړوي، نو پوښتنه به ترې کولی شي او مؤاخذه به هم لري.
بالکل په همدې طریقې سره الله تعالی انسان هم دې دنیا ته د خپل خلیفه او ځای ناستي په توګه رالیږلی دی او په قرآن عظیم الشان کې الله تعالی په ډېرو ځایونو کې انسان خپل خلیفه ګڼلی دی. د الله تعالی فرمان دی:

اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً ؕ (بقرة: 30)

زه په ځمکه کې خلیفه جوړونکی یم.

انسان ته په حیثیت د نائب د الله تعالی لخوا نه اختیارات ورکړل شوي دي کوم چې هغه د الله تعالی د هدایت په رڼایي کې استعمالوي. په همدې طریقې سره هر شخص په خپله دائره کې په څه نا څه توګه د خپلې حکمرانۍ مسؤلیتونه سر ته رسوي. که هغه پلار وي یا مور وي، نو د هغه اولاد د هغه رعایا ده. که هغه خاوند دی یا ښځه ده د هغه د کور افراد د هغه کورنۍ ده. که مشرورور یا خور ده، نو د هغه کشران وروڼه او خویندې د هغوی له لاس لاندې دي او په حیثیت د ځای ناستې او

**خليفه** د دوی د اعمالو کتنه، د دوی د اعمالو سمونه، دوی ته د نېکو کارونو حکم کول او د غلطو کارونو نه يې منع کول د دوی په ذمه واريو کې شامل دي. که چرته دې شخص خپل مسؤليتونه په ښې طريقې سره همداسې مخکې وړل او له دې سره سره يې خپلې رعايا ته هم د نېکۍ او ښو کارونو تلقين کاوه، نو يقينًا چې هر غړی به د ټولنې (چاپېريال) يو ښه غړی وګرځېږي او په دنيا کې به د امن ځای جوړ شي او که چرته په خپلو مسؤليتونو کې له ناکامۍ سره مخ شي، نو دی به ګنهګار وي او په نقصان، زيان کې به اخته شي. داسې افرادو ته په قرآن کريم کې د الله تعالی لخوا نه ارشاد دی:

وَ الْعَصْرِ ۝١ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ۝٢ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ تَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ۬ وَ تَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝٣ (العصر: 31)

**ژباړه:** قسم دی په زمانه، چې انسان خامخا په زيان کې دی، پرته له هغو خلکو نه چې ايمان يې راوړی دی، نېک عملونه کوي او (نورو ته) د حق (رښتينولۍ) وصيت او تلقين کوي.

همدا راز د خليفه کېدو له کبله او د برياليي کېدو لپاره زمونږ د ټولو مسؤليت دی، چې د الله تعالی د احکاماتو په رڼا کې نه يوازې خپل ورځنی ژوند جوړ کړو، بلکې نورو خلکو ته هم ددې حکم وکړو، چې نېکي وکړي او له بدو کارونو څخه ډډه وکړي. د الله تعالی فرمان دی:

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

(آل عمران: 110)

**ژباړه:** "تاسو غوره امت ياست، کوم چې د خلکو (د هدايت) لپاره پيدا شوي، چې تاسو د نېکۍ حکم کوئ او له بدو نه مخنيوی کوئ".

په يو بل ځای کې د الله تعالی فرمان دی:

وَ لْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ (آل عمران: 104)

**ژباړه:** له تاسو نه دې یوه ډله وي چې خلکو ته د نېکۍ حکم کوي او له بدیو څخه یې مخنیوی کوي.

بدي که کوچنۍ وي او که ستره الله او دهغه رسول ﷺ ته سخته ناخوښه ده، پورتنی قرآني آیات مونږ دې ته اړباسي چې فکر وکړو چې نن مونږ د خپلې ناپوهۍ له امله د قرآني لارښوونو نه څومره لرې تللي یو، قرآني آیات مونږ ته دا احساس راکوي چې همدا اوس اوس باید له ځان سره حساب وکړو، زمونږ د سترګو په وړاندې زرګونه ناوړه کارونه په عمومي توګه روان دي لیکن له مونږ نه ډېرې خلک په هغو سترګې پټوي ددې آیات په رڼا کې مو کله د چا د مخنیوي هڅه نه ده کړې، اخلاقي جرأت مو له لاسه ورکړی، مګر مونږ خو دومره کولی شو چې لږ تر لږه خپل ځانونه د هغو ناوړه چارو نه وساتو، چې د خپلو دوستانو عزیزانو او خپلوانو نه په چا کې د قرآن خلاف خبره وګورو چې د هغوی مخه ونیسو، په خپله کورنۍ کې د یو پلار، ورور، زوی او یو خاوند په توګه خپل مسؤلیتونه درک کړو، خپله نېک کارونه وکړو او نور هم دېته وهڅوو تر څو مونږ په یقیني ډول ځانته د غوره امت ویلو اهل وګرځو، له ناوړه چارو ځان ساتل او د نورو خلکو له هغو نه مخنیوی کول نبوي سنت دي او قرآن مونږ ته په وار وار همدا درس راکوي.

د پورتني آیات د موجوده حکم په رڼا کې مونږ ددې کار پیل وکړ، زمونږ موخه خلکو ته قرآني تعلیمات (زده کړې) په خپله محلي ژبه کې رسول او په دې باندې د عمل کولو اهمیت روښانه کول دي، په پیل کې خلکو ته د لمونځ لورې ته ترغیب ورکول او لمونځ کونکو حضراتو ته د لمونځ معنی او مطلب ښودل دي او په دې باندې د عمل کولو لپاره په مختلفو مدرسو، دولتي ښوونځیو کې لمونځ سره له

ژباړې وړيا ښودل کيږي، د لمانځه ازموينې وخت پر وخت ترسره کيږي تر څو په ماشومانو کې د لمانځه د کولو مينه او د لمونځ له ژباړې سره علاقه پيدا شي او په بريالیو زده کوونکو نغدي جائزې/ډالۍ وېشل کيږي تر څو بريالي ماشومان تشويق شي او په نورو ماشومانو کې د لمونځ د ادا کولو او د لمانځه په ژباړه د پوهېدلو جذبه پيدا کړي.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله په نوم يې پيلوم چې خورا مهربان او ډېر رحم کونکی دی.

**په بسم الله سره د کار پيلولو دليل:**

د قرآن مجيد په سورة النمل کې د حضرت سليمان عَلَيۡهِ السَّلَامُ له لورې د صبا ملکې "بلقيس" ته د ليک لېږلو يادونه شوې ده، حضرت سليمان عَلَيۡهِ السَّلَامُ د خپل ليک پيل په بسم الله الرحمن الرحيم سره کړی و، ددې آيات اړوند ژباړه لاندې ده:

قَالَتۡ يٰۤاَيُّهَا الۡمَلَؤُا اِنِّيۡۤ اُلۡقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيۡمٌ ﴿۲۹﴾ اِنَّهٗ مِنۡ سُلَيۡمٰنَ وَ اِنَّهٗ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ﴿۳۰﴾ (نمل 30-29)

**ژباړه:** ( په ليک لوستلو سره ) ملکې وويل: اې د قوم سردارانو ! راغورځول شوی دی ماته يو عزتمند ليک دا د سليمان له لورې څخه دی، او هغه دا دی: د الله په نوم سره يې پيلوم ، کوم چې رحمن (او ) رحيم دی

پورتنی آيات په دې باندې دليل دی چې کله هم د کوم نېک کار په خاصه توګه د ليکنې يا تحرير پيل کيږي نو د تل لپاره دې د الله تعالی په نوم د هغه پيل وشي، د الله تعالی په نوم سره د کوم کار په پيلولو کې غيبي مدد شامليږي او کار اسانه کيږي خو د افسوس ځای دی چې نن مونږ د هرې ليکنې پر مخ د بسم الله الرحمن الرحيم ليکلو دود په بشپړه توګه پرې ايښی دی، بيا څو پرمختګ خوښونکي کسان عام خلک د بسم الله الرحمن الرحيم پرځای د ۷۸۶ شمېرې ليکلو ته هڅوي،

د هغوی په وینا چې د علم الاعداد/شمېر پوهنې له مخې د بسم الله الرحمن الرحیم عدد ۷۸۶ جوړیږي، په هر صورت دا شمېرې په هیڅ ډول د الله تعالی په نوم د کوم کار پیلولو مطلب او معنی نه لري، تر دې چې د ۷۸۶ شمېرو لیکونکي خلک هم د هغې نه په بشپړه توګه ناپوه او ناخبره دي چې د ۷۸۶ شمېرې په څه ډول د بسم الله معنی جوړېږي، حقیقت دا دی چې ۷۸۶ یا نور کوم حروف یا شمېرې نه د بسم الله الرحمن الرحیم سره یوشان او نه متبادل دي، لهذا مونږ باید د خپلو ماشومانو روزنه وکړو او باید هغوی د هر ډول کار د پیل نه مخکې په بسم الله لوستلو او د کومې لیکنې د پیل نه مخکې پر بسم الله الرحمن الرحیم لیکلو عادت کړو.

**السلام علیکم (په تاسو دې سلامتیا وي)**

کورونو ته د داخلېدلو پر وخت په کورنۍ سلام اچول (یعنې السلام علیکم ویل) نه یوازې د اخلاقو غوښتنه ده بلکې فرض هم دي، په سورة النور کې د الله تعالی فرمان دی:

فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٦١﴾ (النور: 61)

**ژباړه:** "بیا هرکله چې تاسو کورونو ته ننوځئ نو په خپلو کورنیو سلام اچوئ! د خیر دعا ده کومه چې برکتناکه او پاکه ده، د الله تعالی له لورې نازله شوې ده، همداسې الله تعالی تاسو ته ښکاره ښکاره خپل حکمونه بیانوي تر څو تاسو پوهه شئ"

د السلام علیکم په څېر لنډو ټکو کې د لویې جامع دعا معنی پټه ده، یعنې د السلام علیکم ویونکی کس د الله تعالی نه دا دعا کوي چې په دې کس دې سلامتیا وي، دا کس دې د هر ډول ستونزو او مشکلاتو نه په امن کې وي او د هغه ځان، مال او اولاد ټول دې په حفاظت، امن او سلامتیا کې وي، کوم چا ته د دې نه ښکلې او ښایسته دعا بل څه کېدی شي؟

قرآن مجيد هم مونږ ته ښوودنه کوي او هڅوي مو چې يو بل ته دعا وکړو، ارشاد مبارک دی:

وَ اِذَا حُيِّيۡتُمۡ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوۡا بِاَحۡسَنَ مِنۡهَاۤ اَوۡ رُدُّوۡهَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ حَسِيۡبًا ﴿۸۶﴾ (نساء: 86)

**ژباړه:** "او هر کله چې تاسو ته د دعا په کلماتو سره سلام وکړی شي، نو تاسو سلام ورکړئ په هغه وينا چې د هغې نه غوره وي يا (لږ تر لږه) هغه وينا وروګرځوئ! له شک پرته چې الله تعالی د هر څه حساب اخيستونکی دی"

نن زمونږ ملګري او دوستان په دې يقين لري چې کومه دعا د چا لپاره وکړی شي هغه قبولېدو ته ډېره نږدې وي، ځکه هر دويم کس له تاسره په دې وينا مخامخ کيږي "دعا راته کوه!" "په خپلو دعاګانو کې مې ياد ساته!" وغيره، په هر حال په خپل حق کې د چا په ژبه د دعا کولو بيخي ساده او اسانه طريقه دا ده چې ته په خپله نورو ته دعا کوه او هر اشنا نا اشنا، کوچني او لوی ته السلام عليکم وايه، په دې ډول به هر څوک د يو بل لپاره دعا کوي او چې په کوم چا سلام اچول کيږي هغه هم په ځواب کې د السلام عليکم په صورت کې ستا لپاره دعا کوي.

قران مجيد نه يوازې په ديني چارو کې زمونږ لارښوونه کوي بلکې الله تعالی د پوره شفقت او مهربانۍ سره په دې کې ځای پر ځای د انسان د اخلاقي روزنې بندوبست هم کړی، کورونو ته د ننوتلو پر وخت د السلام عليکم ويلو او د چا کورته د ننوتلو نه وړاندې د اجازې اخيستلو ښوودنه شوې ده، او ويل شوي دي چې د چا کورته دې د ننوتلو نه وړاندې دری ځله د اجازې غوښتنه وشي او که اجازه ور نه کړل شي يا کوم ځواب ترلاسه نه شي نو بېرته د ګرځېدلو حکم شوی دی، په قرآن مجيد کې الله تعالی فرمايلي دي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَدۡخُلُوۡا بُيُوۡتًا غَيۡرَ بُيُوۡتِكُمۡ حَتّٰى تَسۡتَاۡنِسُوۡا وَ تُسَلِّمُوۡا

عَلٰٓى اَهۡلِهَا ؕ ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّـكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُوۡنَ ۝٢٧ فَاِنۡ لَّمۡ تَجِدُوۡا فِيۡهَاۤ اَحَدًا فَلَا
تَدۡخُلُوۡهَا حَتّٰى يُؤۡذَنَ لَـكُمۡ ۚ وَاِنۡ قِيۡلَ لَـكُمُ ارۡجِعُوۡا فَارۡجِعُوۡا هُوَ اَزۡكٰى لَـكُمۡ ؕ وَ
اللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ عَلِيۡمٌ ۝٢٨ (نور: 27 و 28)

**ژباړه**: "اې د ايمان خاوندانو ! مه ننوځئ ( د نورو خلکو ) کورونو ته پرته له خپلو کورونو تر دې پورې چې اجازه واخلئ او سلام وکړئ د هغو کورونو په خلکو، همدا ستاسو لپاره غوره دي، ښايي چې تاسو پند واخلئ ( په دې حکمتونو سره ). بيا که چېرته تاسو په دې کورونو کې څوک ونه مومئ ( چې تاسو ته اجازه درکړي ) نو مه ننوځئ ! په دې کورونو کې تر هغه پورې چې اجازه درکړل شي تاسو ته، او که درته وويل شي چې بېرته وګرځئ نو بېرته وګرځئ ! دا (د زندګۍ طريقه) ډېره پاکه ده ستاسو لپاره، او الله پاک په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ ښه پوه دی"

د چا کورته د ننوتلو نه وړاندې چې د اجازې کوم شرطونه ټاکل شوي دي په دې کې بې شمېره حکمتونه نغښتي دي، که په دې عمل ونه کړل شي نو پرته له اجازې او ور/ دروازې ټکولو د چا کور يا د خپل کور د کوم بل چا کوټې ته په ننوتلو سره ډېرې ستونزې پيدا کېدلی شي او د بې پردګۍ وېره ده، لهذا مونږ بايد قرآني لارښوونې په پام کې ونيسو او د چا کور يا کوټې ته د ننوتلو نه وړاندې اجازه اخيستل خپل عادت جوړ کړو او خپلو اولادونو او کورنيو ته هم د دې روزنه ورکړو.

همدا راز که کوم څوک له تاسره نېکي يا مرسته وکړي نو د هغه نه د منندې کولو لارښوونه شوې ده او دا زمونږ په اخلاقي مسؤليتونو کې شامل کړی شوي دي تر څو د نېکي کونکي کس حوصله لوړه شي او هغه د نورو خلکو سره مرسته وکړي، په حديث شريف کې راځي:

(څوک چې د کوم انسان شکريه ادا نه کړي هغه د خپل رب شکر هم نه شي ادا کولی)

اسلام د ښوونکو د درناوي او قدر کولو لارښوونه هم کړې ده او هغوی ته يې د

روحاني پلار حيثيت ورکړی، زده کونکي اړ دي چې هغوی د خپلو ښوونکو درناوی وکړي، د هغو وینا ومني او د هغو په ښودل شویو خبرو عمل وکړي، همدا سې ښوونکي هم باید زده کونکو ته د خپل اولاد په سترګه وګوري، څنګه چې د یو پلار هیله او هلې ځلې وي چې د هغه اولاد د هر ډول ناوړه چارو نه لرې وي همدا سې ښوونکی هم باید د زده کونکو په اخلاقي روزنه کې هیڅ ډول غفلت ونه کړي، هغوی باید له زده کونکو سره د مهربانۍ چلند وکړي او د هغوی هر ډول اخلاقي روزنه وکړي، یوا ځې په دې صورت کې زمونږ په ټولنه کې امن ټینګېدا ی شي او زده کونکي د هیواد او قوم په پرمختګ کې خپل مثبت رول لوبولی شي.

## اذان

پنځه وخته لمونځونو ته راغوښتل او د الله تعالی د بلنې نوم اذان دی

اَللّٰهُ اَکۡبَرُ، اَللّٰهُ اَکۡبَرُ

د اَللّٰهُ اَکۡبَرُ تقاضا ده چې مونږ د الله لویي ومنو او ټولې دنیاوي چارې پرېږدو د لمونځ د ادا کولو لپاره جوماتو ته مخه کړو، اذان کونکی د الله تعالی لویي بیانوي چې خدای لوی دی، خدای لوی دی خو مونږ وایو چې زمونږ کاروباري چارې لویي دي په دې کې کېدونکي ګټه ډېره لویه ده، یا په دفتر کې چې زمونږ کوم افسر/ مدیر دی هغه ډېر لوی دی، د همدې مدیر او دې حاکم په چوپړ او هرکلي کې لګېدلي یو او الله تعالی او دهغه بلنې ته هیڅ ارزښت نه ورکوو، په دې ډول مونږ په خپل عمل سره د الله د لویي انکار کوو.

اَشۡهَدُ اَنۡ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، اَشۡهَدُ اَنۡ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

د اذان په ځواب ورکولو سره (کوم چې په مونږ ټولو لازم دی) مونږ ددې خبرې شاهدي ورکوو چې د الله نه پرته د بندګي او عبادت وړ نشته، مونږ شاهدي ورکوو

چې الله تعالی د عبادت وړ دی خو مونږ د هغه عبادت نه خوښوو ، مونږ د لمونځ ادا کولو لپاره نه ځو.

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ. اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ

مونږ په دې اعتراف کوو چې محمد ﷺ د الله پېغمبر او رسول دی او شاهدي ورکوو ، ددې غوښتنه دا ده چې د خدای د پېغمبر په لاره روان شو چا چې هيڅکله په هيڅ ډول لمونځ نه دی پرې ايښی مگر مونږ په لمونځ نه کولو سره خپل دا شهادت باطلوو.

حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ، حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ

الله څومره کريم دی چې نه يوازې يې مونږ ته د پاڅېدو او لمانځه د کولو امر کړی بلکې د هر لمونځ د ادا کولو پر وخت يې د يادولو ترتيب هم کړی دی تر څو څوک دا ونه وايي چې زه ډېر بوخت وم ماته لمونځ کول او د لمونځ وخت په ياد نه و ، الله تعالی د ثبوت د بشپړولو بندوبست کړی دی خو مونږ بيا هم لمونځ نه کوو.

حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ ، حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ

نن سبا هر څوک له دنياوي ستونزو سره لاس او گرېوان دی او په يو نه يو ډول ترې ژغورېدل او بريا ترلاسه کول غواړي، الله د برياليتوب لورې ته بلنه ورکوي خو مونږ برياليتوب نه غواړو او د لمونځ د ادا کولو لپاره جومات ته تلل نه غواړو.

اَللّٰهُ اَکْبَرُ ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

په پای کې يو ځل بيا د مؤذن له خوا د الله د لويي اعلان کيږي خو افسوس ! ( د الله د لويي منلو سره سره ) مونږ په هغه باور نه کوو او د هغه په بلنه د لمونځ ادا کولو ته نه ځو.

## د توحید او رسالت شاهدي ورکول

د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ټولو مؤمنانو لپاره لازمه ده چې د الله تعالی په توحید باندې ایمان ولري.

د الله تعالی ارشاد دی:

اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ مَلٰٓئِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ ۟ (البقرة: 285)

**ژباړه:** رسول (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په هغه څه ایمان راوړی دی څه چې د هغه د رب له لورې پرې نازل شوي دي او مؤمنانو هم ټولو ایمان پرې راوړی دی په الله تعالی باندې او د هغه په ملائکو باندې او د هغه په کتابونو باندې او د هغه په رسولانو باندې یې ایمان راوړی دی په الله باندې د ایمان راوړلو غوښتنه دا ده چې مونږ الله تعالی د هغه د ذات او ټولو صفتونو سره یو او یو اځې ومنو، د هغه عبادت وکړو او د خپلو ستونزو او اړتیاوو لپاره د هغه نه مرسته وغواړو.

## لمونځ

د الله تعالی د وحدانیت او د حضرت محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پېغمبري د اقرار کولو یا دکلمې طیبې ویلو نه وروسته په مونږ لمونځ فرض کیږي، په قرآن مجید کې په ۷۰۰ ځایونو کې د لمانځه د ادا کولو امر شوی دی چې له دې څخه د لمانځه د اهمیت اټکل کولی شو، لمونځ د دین ستن هم ګڼل شوې یعنې د دین اسلام د ټول عمارت بقاء د لمونځ په ادا کولو کې نغښتې ده، څوک چې لمونځ ادا کوي نو هغه د خپل دین عمارت/ودانۍ پیاوړې جوړوي.

د الله تعالی ارشاد دی چې د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوند ستاسو لپاره غوره نمونه ده، الله تعالی د لمونځ امر کړی، پېغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې باندې خپله هم عمل

کړی او خپل امت ته يې هم ددې فرض د پوره والي امر کړی دی خو متأسفانه چې مونږ په دې سنت باندې په عمل کولو کې هم نیمګړي یو مونږ په لمونځ کې هم د غفلت ښکاروندیي کوو، قرآن مجيد له ژباړې سره نه لولو تر څو مونږ له اسلامي احکامو خبر شو، د لمانځه په وخت کې په خپلو دنیاوي او سوداګریزو کارونو کې بوخت یو، په دې فکر نه کوو چې د خدای او د هغه د رسول د حکم نه په بشپړه توګه سرغړونه کوو بیا هم هیله لرو چې مونږ به وبښلی شو او د جنت نعمتونه غواړو، لمونځ خو د الله تعالی اطاعت او د هغه د شکر ادا کولو یوه وسیله ده، دا د خدای د حاکمیت د منلو نوم دی، د خدای پر وړاندې د خپل سر ټیټولو نوم دی مګر کیدی شي مونږ ته دا د قبولیت وړ نه وي، په ورځ کې پنځه وارې مؤذن اذان کوي، د الله په وړاندې د ټیټېدلو په اړه وینا کیږي خو له څو کسانو نه پرته جوماتونه وران ویجاړ دي.

## روژه

روژه د اسلام له ارکانو څخه یو اړین رکن دی، د اسلام نه وړاندې په نورو امتونو باندې هم روژه فرض وه، د الله تعالی ارشاد دی:

يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾ (البقرة: 183)

**ژباړه:** ”اې د ایمان خاوندانو! په تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه څنګه چې له تاسو نه په مخکېنو خلکو فرض کړی شوې وه، ددې لپاره چې تاسو پرهېزګاران جوړ شئ.“

په کال کې یوه میاشت روژه فرض کړی شوې ده او په پورتني آیات کې د روژې موخه پرهېزګاري بیان شوې ده، خو په خواشینۍ سره ویلی شو چې زمونږ اکثره خلک دې ته پام نه کوي چې ایا مونږ له حلالې ګټې څخه پېشمنی او روژه ماتی

کوو؟ زمونږ ډېرى خلک برېښنا غلا کوي او ددې برېښنا په رڼا کې د قرآن کريم تلاوت کوي، له همدې برېښنا څخه د اوبو ماشين/موټور چلوي اودس او غسل ترې کوي، ددې ټولو کارونو سره سره بيا هم مونږ د پرهېزګارۍ غوښتونکي يو، ايا په داسې ډول روژې نيولو سره بايد مونږ د کومې ګټې طمعه او هيله ولرو؟ لږ فکر وکړئ!!

د روژې موخه د انسان پرهېزګار جوړول و، يعنې چې انسان د خپل نفس غوښتنې پای ته ورسوي او د ناوړه چارو نه را وګرځي د دوکې ورکولو، دروغو او دوه مخيتوب نه شاته شي، خو وګورئ نن سبا دلته هر څه سرچپه روان دي، د روژې په مبارکه مياشت کې ناروا ګټه خوړونکی د رمضان نه وړاندې د خپلو مسلمانانو ورونو د لوټلو چمتووالی پيلوي، د خوراک او څښاک د شيانو نرخونه دومره پورته کړي چې د غريب سړي له وس نه پورته وي، بيا هم مونږ هيله مند يو چې خدای به زمونږ دعاګانې قبولې کړي، زمونږ اړتياوې به پوره شي، په قرآن کې ارشاد مبارک دی چې "خدای ستاسو دعاګانې قبلوي په دې شرط چې تاسو پرهېزګار اوسئ".

پام وکړئ! چې يوه روژه د الله تعالی په نزد څومره اهميت لري که په قصدي توګه يوه روژه ونه نيسې نو پرځای يې د مسلسل شپېتو روژو نيولو حکم دی خو ډېر افسوس! چې په مونږ کې ډېرى خلک نه خو پخپله روژه نيسي او نه د روژه نيونکو درناوی کوي، په عامه توګه په خوراک، څښاک او سګرېټ څښلو باندې د وياړ او لويي احساس کوي، که څه هم ليدل شوي دي چې ځينې نامسلمانه خلک هم د روژې په مياشت کې د مسلمانانو حرمت ته درناوی کوي، دا ټولې شيطاني کړنې دي، مونږ بايد قرآن په ترجمې/ ژباړې سره ولولو او هڅه وکړو چې له دې شيطانې ناوړه تاکتيکونو څخه ډډه وکړو.

# زکوة

زکوة یو مالي عبادت دی کوم چې په هر داسې عاقل او خپلواک مسلمان باندې فرض دی چې تر یو کال پورې په ملکیت کې د نصاب په اندازه مال ولري له چاسره چې اوه نیمي تولې سره زر یا دوه پنځوس نیمي تولې سپین زر یا ددې مال په اندازه نغدي روپۍ وي نو دوه نیم فیصده (٪-۵.۲ )یا څلوېښتمه (۱/۴۰) برخه د زکوة په ډول ورکول پرې واجب دي، په قرآن کریم کې ځای پر ځای د لمونځ د قائمولو ترڅنګ د زکوة ورکولو امر هم شوی، د زکوة په بڼه د ټولنې د شتمنو په مال کې د بې وزله خلکو حق ځای شوی دی، د الله تعالی ارشاد دی:

وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ۝١٩ (الذاريات: 19)

**ژباړه:** "او ستاسو په مالونو کې د بې وزله او مسکینانو حق دی."

د الله تعالی ارشاد دی:

خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا (التوبه:103)

**ژباړه:** "ته د هغوی له مالونو څخه صدقه واخله تر څو ته دوی ښه پاک او صفا کړې."

دنصاب په هر خاوند باندې زکوة فرض دی د مسلمان په حیثیت د فکر وړ خبره دا ده چې له کوم مال نه زکوة ورکول کیږي هغه باید پاک او شفاف وي، د زکوة په ډول چې کوم رقم ورکول کیږي هغه باید په خاص حلال رزق باندې بنا وي، په دې رقم کې باید د چا حق ضائع کېدل نه وي، باید د رشوت، سود او غلا پیسې پکې نه وي ګډې کړی شوې، همدا د زکوة اصلي مفهوم دی چې پېژندل يې د هر حیثیت لرونکي سړي لپاره اړین دي، په حدیث قدسي کې د الله تعالی ارشاد دی:

"الله پاک دی او پاک شیان خوښوی."

ددې قدسي حدیث نه څرګندیږي چې د زکوة د مال پاکوالی څومره اړین دی، که په دې عمل ونه شي نو ټولې صدقې او خیراتونه بې ګټې دي، قرآن مونږ ته د پاکوالي

او سپېڅلتیا درس راکوي،د قرآني احکاماتو د ژباړې سره په لوستلو اصلي حقیقتونه پېژندل کیږي.

## حج

حج په هر توانمند مسلمان باندې په ژوند کې یو ځل فرض دی.

الله تعالی فرمایي:

وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا (آل عمران: 97)

**ژباړه:** "او د الله لپاره په خلکو باندې د دې کور حج فرض دی هر څوک چې تر هغه د رسېدلو وس/توان لري."

حج یو ستر او ګران عبادت دی چې د ادا کولو لپاره یې مسلمان خپل کور، خپله کورنۍ اولاد، خپل پلار او مور، خپل مال جایداد او کاروبار پرېږدي او د الله تعالی د کور د زیارت لپاره ځي.

مونږ ته پکار دي چې د حج د ادا کولو نه وړاندې د دې خبرې ډاډ ترلاسه کړو چې مونږ د کوم مال په لګولو سره د حج ادا کولو لپاره ځو ایا هغه مال په حلاله طریقه سره ترلاسه شوی؟ که مونږ د حج د ادا کولو لپاره حلال مال ونه لګوو نو بیا زمونږ د دې هلو ځلو، کړاوونو منډو ستړو او سفر هیڅ ګټه نشته.

## د لمونځ اهمیت

لمونځ هغه فریضه ده چې ادا کول یې په هیڅ وخت کې نه ځنډول کیږي، تر دې چې د جهاد په ډګر کې هم دلمونځ د پابندي امر شوی دی، په قرآن کریم کې د لمونځ د قائمولو احکامات راغلي دي، زما په اند د لمونځ د قائمولو نه مراد د لمونځ د ادا کولو پر وخت چې په ژبه کوم کلمات وي د هغې مطابق خپل عملي ژوند تېرول دي، خو افسوس دا دی چې اول خو مونږ لمونځ نه کوو، او که لمونځ کوو هم نو د لمونځ

د کلماتو د معنی نه ناخبره یو چې مونږ په لمونځ کې څه وایو، د دې معنی څه ده.
د لمانځه په ادا کولو سره د انسان نور واجبات پخپله سرته رسیږي، د بېلګې په توګه په قرآن کریم کې انسانانو ته امر شوی چې پر حضرت محمد ﷺ درود ووایئ، د پنځه وخته لمانځه په ادا کولو سره انسان په ورځ کې لږ تر لږه ۱۷ ځله درود شریف وایي، نن هر سړی د رسول الله ﷺ د مینې دعوه کوي خو لمونځ نه ادا کوي او په دې توګه د درود شریف ویلو نه هم بې برخې کیږي که څه هم نبي کریم ﷺ لمونځ د خپلو سترګو یخوالی ګڼلی دی.
ځوک چې د خپلو وفات شویو والدینو د بښنې هیله خو لري مګر د دې بښنې لپاره چې کومه غوره طریقه ښودل شوې ده په هغې عمل نه کوي، د پنځه وخته لمونځونو په ادا کولو سره انسان په ورځ کې لږ تر لږه ۱۷ ځله د ځان او د خپل مور او پلار لپاره د بښنې دعا غواړي، خو نن مونږ د لمانځه د ادا کولو په ذریعه د خپل ځان او د خپل مور او پلار لپاره د بښنې غوښتلو پر ځای رسمونه او رواجونه خپل کړي دي، په قرآن کریم کې د الله تعالی ارشاد دی:
رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ ۖ رَبَّنَا وَ تَقَبَّلْ دُعَآءِ ۝٤٠ رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَ لِوَالِدَيَّ وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ۝٤١ (ابراهیم: 40-41)
**ژباړه**: "اې زما ربه! ما له لمونځ کونکو څخه وګرځوه او زما له اولادونو څخه هم، اې زمونږ ربه! زما دعا قبوله کړه. اې زمونږ ربه! ما ته بښنه وکړه او زما مور او پلار ته او د ایمان خاوندانو ته، په کومه ورځ چې به حساب قائمیږي."
په یو بل ځای کې فرمایي:
وَ اِذَا سَاَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ ؕ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ۙ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ وَ لْيُؤْمِنُوْا بِيْ لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ ۝١٨٦ (البقرة: 186)
**ژباړه**: "کله چې زما بندګان زما په اړه له تانه پوښتنه وکړي نو ته ورته ووایه چې زه

ډېر نږدې يم ، او د هر غوښتونکي غوښتنه قبلوم کله چې ما وبلي، نو هغوی دې زما حکم/خبره ومني او په ما دې ايمان ولري،ښايي چې دوی په سمه لاره محکم پاتې شي.“

ددې آيات مبارک نه په ښکاره ډول څرګنديږي چې الله تعالی دعاګانې اوري او اړتياوې پوره کوي، ځکه بايد مونږ د الله له دربار نه ناهيلي نه شو ، بايد ځان او خپل مور او پلار ته د ښېښنې دعا په خپله وکړو.

د لمانځه د ادا کولو په وخت کې بنده د خپل رب د عبادت کولو او له هغه څخه د مرستې غوښتلو اقرار کوي خو د لمانځه د ژباړې سره د نا بلدتيا له امله نن مونږ د خپلو ستونزو د حل لپاره الله تعالی ته د رجوع کولو پرځای نور ډېر شيان ايجاد کړي دي.

ددې هڅې له لارې زمونږ موخه خلک لمانځه ته هڅول، د لمونځ له ژباړې سره اشنا کول او خپل عملي ژوند ددې مطابق جوړ ولو درس ورکول دي، نن چې مونږ له هر ډول ستونزو سره مخ يو لامل يې د قرآني تعليماتو څخه لريوالی دی.

د الله تعالی ارشاد دی:

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾ (القمر: 17)

**ژباړه**: ”او مونږ د پوهې لپاره قرآن خورا اسانه کړی دی نو ايا شته څوک يادونکی او پند اخيستونکی؟“

ددې آيات مبارک نه څرګنده شوه چې قرآن کريم الله تعالی د پوهې لپاره اسانه کړی دی، په قرآن د پوهېدلو تلقين ددې لپاره شوی دی چې مونږ په خپل ژوند کې ددې نه لارښوونې ترلاسه کړو ، نېک کارونه ترسره کړو او له ګناهونو څخه ځانونه وساتو ، دا په هغه صورت کې ممکنه ده چې مونږ ددې په معنی وپوهېږو ، په دې باندې غور وکړو او عمل پرې وکړو.

نن د قرآن کریم د ژباړې نه د ناخبرتیا له امله مونږ په ګڼ شمېر ډلو وېشل شوي یو ، د تروریزم په څېر ستونزې نن سبا د قرآن کریم له ژباړې څخه د ناپوهۍ له امله رامنځته کیږي، زه په ډاډ سره ویلی شم چې که نن مونږ قرآن کریم له ژباړې سره لوستلی وای نو هیڅ کس به څوک نه وژل، نن زمونږ په ټولنه کې وژنې او لوټ مار عام دي.

په قرآن کریم کې د الله تعالی ارشاد دی:

**مَنْ قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا** ۭ

(المائدة: 32)

**ژباړه:** "څوک چې یو بې ګناه نفس ووژني یا په ځمکه کې فساد وکړي، نو ګواکې چې ټول انسانیت یې وژلی دی."

په پای کې مې د الله تعالی نه دا سوال دی چې الله پاک دې زمونږ دا هڅې په خپل دربار کې قبولې او منظورې وګرځوي، او مونږ ټولو ته دې د قرآن کریم په ژباړه لوستلو او د هغې مطابق د خپل عملي ژوند د تېرولو توفیق را په برخه کړي (آمین)

**رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ** ۝۲۰۱ (البقرة: 201)

**ژباړه:** "اې زما ربه ! مونږ ته په دنیا کې هم ښېګڼه را په برخه کړه او په اخیرت کې هم ښېګڼه را په برخه کړه او مونږ د اور د عذاب نه وژغوره."

**سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ** ۝۱۸۰ **وَ سَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ** ۝۱۸۱ **وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ** ۝۱۸۲ (الصافات: 180-182)

**ژباړه:** "پاکي ده ستا رب لره چې رب د عزت دی د هغو خبرو نه چې دوی یې بیانوي، سلامتیا دې وي پر ټولو رسولانو باندې، او ټولې ستاینې الله لره دي کوم چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی."

# د لمونځ اهمیت ، فضیلت او ګټې

لمونځ د اسلام له بنسټیزو عناصرو / ارکانو څخه یو اړین رکن دی، د لمونځ لپاره اسلام د "الصلوة" کلمه کارولې ده چې معنی یې درود ، سلام او دعا ده خو د اسلام په اصطلاح کې د عبادت هغه طریقه ده چې الله تعالی د جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ او بیا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وسیله مونږ ته ښودلې ده.

لمونځ د ټولو پېغمبرانو په تعلیماتو کې شامل او په هره دور کې فرض پاتې شوی،له حضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ څخه نیولې بیا تر رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پورې هر پېغمبر خپل امت ته په لمونځ ټینګار کړی او ددې ارزښت یې ورته ښودلی، لمونځ الله تعالی پر مونږ فرض کړی او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنتو په مونږ باندې هغه عملاً لازم ګرځولی دی، لمونځ په اسلام کې د دین ستن ګڼل کیږي، ګوا کې د دین ټول عمارت په لمونځ قائم دی، لمونځ پرېښودل سخته لویه ګناه ده او دوزخ ته بیونکی عمل دی، په قرآن کریم کې په ډېرو ځایونو کې د لمونځ قائمولو حکم راغلی دی، دا د نبوي معراج ډالۍ ده، دا په هر حالت کې فرض دی دا د رب ذوالجلال څرګند حکم دی.

لمونځ د مؤمن او کافر تر منځ توپیر کوي، څوک چې د لمونځ لپاره په منظم ډول اودس وکړي، په خپل وخت لمونځ ادا کړي په پوره عاجزۍ او خضوع سره رکوع او سجده وکړي الله تعالی د داسې بنده ذمه واري په غاړه اخیستې ده چې هغه ته به ښننه کوي او د هغه ګناهونه او تېروتنې به وبښي او څوک چې ددې برعکس رویه اختیار کړي یعنې لمونځ ته څه ارزښت ور نه کړي او د لمونځ د ادا کولو په معامله کې غفلت او بې پروایي وکړي د داسې کس لپاره د الله تعالی له لوري هیڅ کوم ضمانت نشته چې هغه ته به خامخا ښننه کوي، د هغه قضیه به د الله تعالی له ارادې سره سمه وي، که وغواړي نو وبه یې بښي او که وغواړي نو د هغه په نیولو او

محاکمه کولو سره به ورته د هغه د بدو اعمالو سزا ورکړي.
په قرآن کریم کې راغلي دي چې د قیامت په ورځ به د دوزخیانو څخه جنتیان پوښتنه وکړي چې تاسو کوم عمل دوزخ ته ورسولئ؟ نو هغوی به ډېر په افسوس او پښېمانتیا سره ځواب ورکړي چې مونږ لمونځونه نه کول.
قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿۴۳﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿۴۴﴾ (المدثر: 43-44)
**ژباړه**: "هغوی به ځواب ورکړي چې مونږ لمونځونه نه کول او په غریبانو باندې مو خوراک نه کاوه."
ګواکې پنځه وخته لمونځ په پابندۍ او په عاجزۍ سره ادا کول د خدای او بنده ترمنځ تړون رامنځته کوي، په لمونځ کې انسان د خپل ټول بدن او ټول زړه سره د خدای په وړاندې ټيټيږي، د خپلې بندګۍ او د هغه د خدايي اقرار کوي، په عاجزۍ سره د هغه په حضور کې د خپلې محتاجۍ او د هغه د عظمت او لويي اقرار کوي، خدای ته مخامخ توبه کاږي د خپلو ګناهونو معافي او دهغه د بښنې او مغفرت غوښتنه کوي، په ځواب کې الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د هغه د بښنې او تېرېدنې ژمنه کوي، له دې نه اټکل کولی شئ چې لمونځ څومره فوق العاده عبادت او څومره ستر خيز دی، دا د کائناتو د پالونکي په دربار کې د حاضرېدو او د هغه څخه د بښنې او خلاصون يوه مهمه وسيله ده ، کوم خلک چې د لمونځ په څېر عبادت ته د ظاهري رواج او د بې مفهومه ناستې ولاړې نوم په ورکولو سره ددې د ارزښت کمولو هڅه کوي هغوی بايد پوه شي چې په لمونځ کې د انسان بدن او اندامونه نه بلکې په حقيقت کې د هغه زړه او روح د خدای پر وړاندې ټيټيږي او د هغه ټول بدن عملاً د هغه د پاکي او لويي اعتراف کوي، ددې عمل همدا حقيقت هغه د ايمان او کفر ترمنځ سرحد جوړوي او ددې د پابندي التزام او اهتمام کونکی انسان د خدای د بښنې، رحمتونو، لورېينو او تېرېدنو مستحق ګرځوي.

په قرآن کریم کې څو ځله د لمانځه د قائمولو امر شوی دی:

وَ اَقِیۡمُوا الصَّلٰوۃَ وَ اٰتُوا الزَّکٰوۃَ وَ ارۡکَعُوۡا مَعَ الرّٰکِعِیۡنَ ﴿۴۳﴾ (البقرة: 43)

**ژباړه:** "او لمونځ قائم کړئ او زکوة ورکړئ او د رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ."

په یو بل ځای کې د الله تعالی ارشاد دی:

وَ اِذَا کُنۡتَ فِیۡهِمۡ فَاَقَمۡتَ لَهُمُ الصَّلٰوۃَ فَلۡتَقُمۡ طَآئِفَۃٌ مِّنۡهُمۡ مَّعَكَ وَ لۡیَاۡخُذُوۡۤا اَسۡلِحَتَهُمۡ ۟ فَاِذَا سَجَدُوۡا فَلۡیَکُوۡنُوۡا مِنۡ وَّرَآئِکُمۡ ۪ وَ لۡتَاۡتِ طَآئِفَۃٌ اُخۡرٰی لَمۡ یُصَلُّوۡا فَلۡیُصَلُّوۡا مَعَكَ وَ لۡیَاۡخُذُوۡا حِذۡرَهُمۡ وَ اَسۡلِحَتَهُمۡ ۚ (النساء: 102)

**ژباړه:** "او (اې محبوبه!) کله چې ته د هغوی (مجاهدینو په منځ) کې یې هغوی ته لمونځ (جماعت) ورکوې، نو د دوی نه دې یوه ډله له تاسره ودرېږي او دوی دې خپلې اسلحې له ځان سره واخلي بیا کله چې دوی سجده وکړي نو دوی دې له تاسو نه وروسته شي، او بله ډله دې راشي چې لمونځ یې نه وي کړی، نو له تاسره دې لمونځ وکړي او خپله بیداري او اسلحې دې ونیسي."

په یو بل ځای کې ارشاد مبارک دی:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا ارۡکَعُوۡا وَ اسۡجُدُوۡا وَ اعۡبُدُوۡا رَبَّکُمۡ وَ افۡعَلُوا الۡخَیۡرَ لَعَلَّکُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴿۷۷﴾ (الحج: 77)

**ژباړه:** "اې د ایمان خاوندانو! تاسو رکوع، او سجدې وکړئ او د خپل رب عبادت وکړئ او (نورو) نېکو کارونو ته ځئ ددې لپاره چې تاسو بریالي شئ."

ورپسې په بل ځای کې الله تعالی فرمایي:

وَ اَقِیۡمُوا الصَّلٰوۃَ وَ اٰتُوا الزَّکٰوۃَ وَ اَطِیۡعُوا الرَّسُوۡلَ لَعَلَّکُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ ﴿۵۶﴾ (النور: 56)

**ژباړه:** "او لمونځ قائم کړئ او زکوة ورکړئ او د رسول پیروي وکړئ تر څو په تاسو رحم وکړی شي."

د لمانځه ډېرې جسمي، معنوي او فزیکي ګټې هم شته چې مونږ ترې بېخي ناخبره

یو ، که څوک د لمانځه په ګټو پوه شي نو هیڅکله به لمونځ پرېنږدي، د مسلماني له امله لمونځ پر مونږ باندې فرض کړل شوی دی او په هر بالغ نارینه او ښځینه باندې لازم دی نو مونږ باید د لمونځ پابندي وکړو ، مونږ نه یوازې په لمانځه کې د خپل رب شکر ادا کوو بلکې په اخیرت کې هم لمونځ زمونږ دعملونو د زیاتوالي لامل ګرځي، او بېشکه د لمونځ پابندي کونکی به په اخیرت کې سرلوړی وي، په لمونځ سره چې چېرته روحاني سکون ترلاسه کیږي هلته مونږ بدنې ګټې هم ترلاسه کوو .

د سهار د لمونځ په ادا کولو سره چې انسان ته کومه تازګي حاصلیږي په هغې سره هغه ټوله ورځ چوست وي، همدا راز د ماسپښین لمونځ زمونږ لپاره د خوراک کولو نه وروسته د کوچنی ورزش/تمرین په څېر دی او د مازیګر لمونځ زمونږ بدن ته ارامتیا وربښي، د ماښام او ماخستن لمونځونو په ادا کولو سره د شپې مونږ ښه خوب کوو ، د لمونځ کونکي څېره نوراني او زړه یې له نوره ډک وي، بدن ته ارامتیا حاصلیږي او لمونځ د قبر ملګری دی، په لمونځ کونکي باندې د الله تعالی رحمتونه نازلیږي او دا د جنت کِلي ده، د قیامت په ورځ به لمونځ زمونږ د نېکیو وزن زیاتوي او زمونږ لپاره به د دوزخ له اوره د خلاصون وسیله شي، په دې شرط چې مونږ لمونځ په پوره زړه سره د آدابو او سنتو مطابق ادا کړو او د بېړې نه کار وا نه خلو بلکې په ورو ورو سره یې وکړو.

لمونځ زمونږ د روغتیا په برقرار ساتلو کې مهم رول ادا کوي، د لمونځ تر ټولو لویه خبره دا ده چې انسان پاک صفا اوسي چې له ډېرو ناروغیو نه بچ کیږي، او د لمانځه لپاره په اودس کولو سره دننه او بهر ټول بدن وینځل کیږي، په دې سره د انسان زړه او بدن ته سکون حاصلیږي، په مسواک کولو سره غاښونه پاکیږي، ډېرې ناروغۍ له غاښونو څخه پیدا کیږي، د اودس کولو پر وخت درې ځله د لاسونو په وینځلو سره د لاسونو څخه جراثیم لرې کیږي، په پوزه کې په اوبو اچولو سره د دوړو،

ګردونو او جراثیمو نه ساتل کیږي، دری ځله د مخ په وینځلو سره مونږ د دوړو، ګردونو، خولو او د څرمنې له خیرو څخه ژغورل کیږو. د لاسونو او څنګلو په وینځلو او په مسح کولو سره د وینې جریان تېزیږي، د غاړې په مسح کولو سره لمونځ کونکی د چکر، زکام، فلج او د خوب د کموالي په څېر (له ګڼ شمېر) ناروغیو څخه ژغورل کیږي، د پښو په وینځلو سره د پښو په مختلف ډول ناروغیو کې کموالی راځي، ځکه چې د پښو خیري ورسره پاکیږي، په ورځ کې پنځه ځله اودس کول د (depression) مایوسي او د وینې فشار په څېر ناروغۍ تر ډېره حده له منځه وړي، لمونځ مونږ له سستۍ څخه ژغوري، مونږ د وخت پابند جوړوي، دا مونږ د بې حیایي او ناوړه کارونو څخه منع کوي، په لمونځ کې په نېغ/مستقیم درېدلو سره د ملا هډوکي ته ارام حاصلیږي، په لمانځه کې په رکوع کولو سره د ملا د درد نه نجات ترلاسه کیږي او د خېټې د عضلاتو، او د معدې او کولمو فعالیت ورسره ښه کیږي، په سجده کې وینه زمونږ دماغو ته رسیږي د سجدې له امله زمونږ سترګو، غوږونو او غاړې ته ارام حاصلیږي، په لمانځه کې د دواړو لاسونو تر غوږونو پورې په پورته کولو سره، د لاسونو/مټو، غاړې او اوږو تمرین کیږي، د عصري څېړنو له مخې دا ډول ورزش د زړه د ناروغانو لپاره ډېر ګټور ثابت شوی، کوم چې په لمونځ کولو سره په خپله ترسره کیږي، دا ډول ورزش په عامو حالاتو کې انسان د فالج له خطرې نه هم ساتي، په لمانځه کې قیام کول د زړه بوج کموي، ځکه چې د انسان د بدن وزن په دواړو لاسونو مساوي راځي، چې سترګې د سجدې پر ځای ولګوي نو هم په زړه کې برابروالی راځي او د وینې جریان اسانه کیږي، په دې سره په انسان کې قوت مدافعت او د هغه په اعصابو کې توان پیدا کیږي، د دوو سجدو تر منځ ناسته زنګنونه او پنډۍ قوي کوي، د لمونځ په پای کې په سلام ګرځولو سره د غاړې عضلاتو ته قوت حاصلیږي په کوم سره چې

انسان تر او تازه او چوست او سیږي.

ویل شوي دي چې که څوک غواړي چې خپل رب ورسره خبرې وکړي نو هغه دې قرآن کریم ولولي او که بنده پخپله غواړي چې د خپل رب سره خبرې وکړي نو لمونځ دې ادا کوي.

زدکونکي باید پوه شي چې تاسو ته د لمونځ معنی له دې امله در زده کول کیږي چې تاسو لمونځ کونکي جوړ شئ او د لمونځ ادا کولو پر وخت تاسو په دې وپوهیږئ چې مونږ د الله تعالی سره څه خبرې کوو، په کوم سره چې ستاسو په لمونځ کې د سکون او د الله تعالی سره د اړیکې احساس پیدا کیږي، بېشکه چې لمونځ د بدۍ او بې حیایۍ نه ژغورونکی دی مګر اړینه ده چې اول خو لمونځ په ښه شان سره ادا کړل شي.

زده کونکو ! له اخلاقي پلوه خپل ځانونه غوره جوړ کړئ ! تل د مشرانو درناوی او د کشرانو خیال ساتل زده کړئ، د خپلو مشرانو او ښوونکو درناوی وکړئ، خپلو والدینو ته وخت ورکړئ او که هغه مو ورته نو د هغو په خبرو بده مه منئ، د هغوی په خبرو عمل وکړئ، مور او پلار او ښوونکي ستاسو د ګټې خبرې کوي، پرځای ددې چې خپلې پریکړې خپله وکړئ د خپلو والدینو په مشورې سره یې وکړئ، مشوره کول ډېر غوره کار دی، په کوم سره چې انسان یوه غوره پریکړه کولی شي او د زیان وېره ورسره تر ډېره کمیږي، د وخت پابندي کول زده کړئ، پنځه وخته لمونځ پر وخت ادا کول تاسو په خپله پابند جوړوي، د خپل ګاونډي خیال وساتئ، د هغه په غم او درد کې له هغه سره ودریږئ، چې څومره کولای شئ له اړمنو خلکو سره مرسته وکړئ، قرآن مونږ ته د اخلاص درس راکوي، د رسول الله ﷺ ژوند د اخلاقو تر ټولو غوره نمونه ده، که زمونږ په رښتیا د پېغمبر ﷺ سره دومره مینه وي څومره چې مونږ معمولاً ښکاره کوو نو مونږ باید د هغوی په پلونو

هم روان شو، د کومو خبرو چې پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر کړی په هغو باید عمل وکړو، او د کومو کړنو نه یې چې منع کړې ده له هغو نه باید ډډه وکړو کنه نو مونږ ته منافقین ویل کېدی شي چې ځای یې دوزخ دی چې خاشاک (د سون توکي) به یې انسانان او کاڼي وي، لکه څنګه چې په بل فصل کې په تفصیل سره بیان شوي، هڅه وکړئ چې د هیلو بای پر ځای په السلام علیکم سره د خبرو پیل وکړئ، دا یوه دعا ده چې تاسو یې د یو بل لپاره د الله تعالی څخه غواړئ چې په ځواب کې یې تاسو ته هم دعا کیږي، الله تعالی مونږ ټولو ته السلام علیکم د یو بل لپاره د ښېنې ذریعه ګرځولې ده، همداسې په بل باب کې په بسم الله سره د کار پیلولو یادونه شوې ده، په بسم الله سره د کار په پیلولو سره په هغه کار کې د الله تعالی رضا شاملیږي او د هغه د مرستې هیله روښانه کیږي، مونږ ډېری وخت د یو کار په پیل کې الله نه یادوو، او په پایله کې کار خرابیږي، بیا مونږ وایو چې الله ته همدا منظوره وه، الله تعالی د خپلې تېروتنې ذمه وار ګڼل هم ډېره لویه ګناه ده.

الله پاک دروغ ویل منع کړي دي، په قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي چې په دروغجن د الله لعنت دی، یعنې الله تعالی د دروغجن څېره لیدل هم نه خوښوي، په مونږ کې دروغ دومره عادي شوي چې رښتیا ویل مو پرې ایښي دي، په وړو وړو دروغو ویلو سره مونږ په دروغو عادت کیږو، بیا داسې یو وخت راځي چې خلک د دروغجن په رښتیا خبره هم باور نه کوي، تل رښتیا وایئ او د حق ملګري شئ، په قرآن کریم کې دي چې که په رښتیا ویلو سره ستاسو کوم خپل چاته زیان رسیږي بیا هم رښتیا وایئ، والدین او ښوونکي باید پخپله هم له دروغو څخه ډډه وکړي او خپل بچیان او زده کونکي هم باید له دروغو وساتي او د رښتیا ویلو تلقین ورته وکړي، ماشومان د خپل مور او پلار تر اغېزې لاندې راځي، ښې او بدې خبرې له هغوی څخه زده کوي، که ماشومان خپل مور او پلار ووینې چې رښتیا وایي او له

دروغو ډېره کوي نو هغوی په خپله هم له دروغو ژغورل کيږي، ډېر ځله ليدل شوي دي چې که څوک کورته راشي نو مور پلار ماشومانو ته وايي چې ورشئ ورته ووايئ چې پلار مې په کور کې نشته، کوم چې نه يوازې په خپله بد عادت دی بلکې ستاسو ددې عادت نه ماشومان هم د دروغ ويلو عادت اخلي د کوم نه چې په هر ډول ځان ساتل پکار دي.

د مسلمه امت د اخلاقي زوال لومړی لامل د خپلو اولادونو په روزنه کې د والدينو او سرپرستانو ناکامي ده، ويل کيږي چې د مور غېږه د ماشوم لومړنۍ مدرسه/ ښوونځی وي او والدين د خپلو بچيانو لپاره نمونه وي، ماشومتوب د اخلاقو او کردار د ښايسته کولو لپاره تر ټولو ښه وخت دی ، دا د هر پلار او مور هيله وي چې اولاد يې له هر شر او بدۍ څخه وژغورل شي خو ايا هغوی ددې لپاره عملي هڅې هم کوي؟ هغوی پخپله د الهي حکمونو څومره پابند دي؟ هغوی په کور کې د بچيانو په شتون کې پخپله دروغ وايي خو هيله لري چې د هغوی اولادونه دې هغوی ته دروغ نه وايي، پخپله د نجونو او هلکانو په مخ کې ښکنځلې کوي خو خپل ماشومان د سپکو سپورو نه لرې ساتل غواړي، دا به يوازې هغه وخت ممکنه وي چې کله مونږ پخپله هم په دې خبرو عمل وکړو.

تل په اوداسه کې اوسيږئ د خپل پاکوالي په خپله خيال وساتئ، د خپل ځان سره سره د خپل کور د پاکوالي، د کوڅو چاپېريال او ښوونځي د پاکوالي اهتمام کوئ، دصفايي نه کولو له امله ځای پر ځای د ګندګيو ځلي جوړيږي کوم چې د مچانو او مياشو د نسل د زياتوالي لامل ګرځي، همدا مچان او مياشي ناروغۍ خپروي، په دې ناروغيو اخته کسانو باندې چې چېرته د درملنې لپاره په زرګونو، لکونو روپۍ لګول کيږي هلته همدا ناروغۍ د ناروغ لپاره د تکليف لامل هم وي، که د پاکوالي خيال ساتل پيل کړو نو نه يوازې دا چې له دې ناروغيو او ستونزو څخه

مخنیوی کېدای شي بلکې د هغوی په درملنه کې له بې ځایه لګښتونو څخه هم مخنیوی کېدای شي ، په لاره کې که کوم داسې څه پراته وي چې خلکو ته ترې د زیان رسېدلو وېره وي نو هغه پورته او لرې کړئ، د خوراک په وخت کې مشران مخکې کړئ، د ناستې په وخت کې لومړی هغوی ته ځای ورکړئ.
تل حلال خواړه وخورئ که څه هم لږ وي، حرام رزق ښایي یوه نوړی ولې نه وي مه یې خورئ او مه یې ګټئ، ځکه چې د حرامو یوه نوړی زمونږ ټول عبادات له منځه وړي، د هر غریب، بې وزله او اړمن سره د خپل توان مطابق د مرستې کولو هڅه وکړئ، د چا زړه مه ازاروئ، د هرچا د دعا اخیستلو هڅه وکړئ، حرص مه کوئ، د چا ترشا بدي مه بیانوئ، له اجازې پرته د چا په شیانو (بکسه، کتابچه، پینسل وغیره) کې لاس وهل غلا بلل کیږي، که د چا د یو شي د کارولو اړتیا وي نو د هغه نه باید اجازه واخلئ که څه هم هغه شی بې ارزښته وي، د چا کور ته د ننوتلو پر وخت اجازه اخلئ او د بېرته تلو پر وخت هم په اخلاقي ډول اجازه واخلئ، دا ټولې طریقې زمونږ پاک پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته د قرآن په ذریعه ښوودلې دي، که په قصدي ډول له تاسو نه کومه تېروتنه وشي نو سمدلاسه خپله تېروتنه ومنئ او بښنه وغواړئ، او که بل څوک تېروتنه وکړي نو په بښنه کې یې مه ناوخته کوئ، تل د زغم نه کار واخلئ، الله د زغم کوونکو سره دی، که تاسو ته څوک کومه ډالۍ یا نېکه مشوره درکړي نو د هغه شکریه ادا کړئ تر څو هغه په راتلونکي کې هم دا کار جاري وساتي، هیڅ ډول خرابې او فحاشي خبرې په ژبه مه راوړئ، چاته بدې ردې مه وایئ، په خرابو نومونو سره څوک مه رابولئ، په غلطو نومونو اخیستلو سره مو یو بل ته په زړونو کې کرکه پیدا کیږي، کومه چې د جنګ جګړې لامل ګرځي، ټول مسلمانان په خپل مینځ کې سره ورونه دي، دا چې په دنیاوي اعتبار سره مونږ قبیلې او قومونه جوړ کړي دي دا یوازې د پیشې/مسلک په اساس دي، هیڅ کوم

انسان له بل نه کم یا لوړ نه دی بلکې ټول انسانان د یو آدم اولاد دی او په مرتبه او حیثیت کې سره برابر دي بلکې انسانیت کوم مذهب ته اړتیا نه لري بلکې د حقوقو له پلوه غیر مذهب ته هم هغه حقوق حاصل دی کوم چې تاسو ته حاصل دي.

نجونې باید په خاصه توګه خپلې پردې ته پاملرنه وکړي، مور او پلار، ښوونکي او د قرآن کریم درس ورکونکي قاري صاحبان باید نجونو ته د پردې مقاصد بیان کړي او هغوی ته باید وویل شي چې یوائې په سره ټیکری اچول مقصود نه دي بلکې سینه او ګریوان هم باید پټ وساتي، د پردې مطلب د ټول بدن پټول دي، پرده نه کول او بدن ښکاره کول ډېره لویه ګناه ده، داسې مه کوئ چې یوائې جومات یا مکتب/ مدرسې ته د تللو په وخت کې د پردې اهتمام وکړئ او د واده او ښادیو پرمهال او بازار ته د تللو پر وخت هغه په اېستلو سره وغورځوئ، پورتنۍ یادې شوې ټولې خبرې په قرآن کې موجودې دي، الله تعالی مونږ ته د همدې ښو خبرو او د ژوند د طریقو ښودلو لپاره قرآن کریم رالېږلی دی او زمونږ پیغمبر ﷺ یې د عملي بېلګې په توګه رالېږلی دی، مګر له بده مرغه چې مونږ په دې خبرو تر ننه پورې عمل کوونکي نه شو ځکه چې مونږ قرآن کریم په ژباړه نه لولو.

ښوونکی د ملت معمار او معنوي پلار هم بلل کیږي، یعنې هغه د ماشوم په ښوونه او روزنه سره د هغه نه یو ښه شخصیت جوړوي، او په دې توګه هغه ټولنه او ملت جوړوي، د ملت د مالیې له پیسو نه هغه ته ځکه معاش ورکول کیږي چې په بدل کې یې زده کوونکي وروزي، خو نن په افسوس سره ویل کیږي چې ښوونکو هغه د روزګار د ذریعې پورې محدوده ګرځولې ده او په کوم فکر او جذبه سره چې د زده کوونکو د روزنې اړتیا ده هغه ډېره کمه تر سترګو کیږي، په دې توګه ښوونکي هم د اسلامي ټولنې د اخلاقي زوال مسؤل دي، که هغوی په پوره توګه دې لورې ته پام کړی وای ښایي نن به وضعیت بل ډول و، درانه ښوونکي د درسي کتابونو ښوونه

هم سخته ګڼي، لومړی خو هغوی د ماشومانو د قرآن کریم ښوونې ته توجه نه ورکوي دویم که توجه ورکوي هم نو یوازې یې تر عربي ژبې پورې محدوده ساتلې ده، پایله دا چې د قرآن کریم د ښوونې اصلي موخه نه ترلاسه کیږي، او اسلامي ټولنه نن له زوال سره مخ ده، څنګه چې د درسي کتابونو ښوونه د وخت د حکومت او د پوهنې ریاست له لوري په ښوونکو باندې لازمه ده، همداسې بلکې له دې نه هم زیات د قرآن کریم ښوونه هم یوه دیني فریضه ده، له همدې امله له ټولو ښوونکو نه غوښتنه ده چې چېرته هغوی د درسي کتابونو ښوونه کوي هلته دې د سهار په مجلس کې ماشومانو ته د قرآن کریم د ښوونې لوري ته هم لږ په زیار او دیني روحیه پام وکړي تر څو د قرآن کریم زده کړه د هغوی په زړونو باندې رسم شي او چې لوی شي نو یو ښه انسان او غوره هیوادوال ترې جوړ شي.

شیطان هڅه کوي تر څو په یوه نه یوه بهانه مونږ په هغو ښو خبرو د عمل کولو نه بند کړي، هغه خو غواړي چې مونږ د الله تعالی حکمونه ونه منو او دوزخ ته لاړ شو، خو هغه په خپله دوزخي دی او نه غواړي چې دوزخ ته یوازې لاړ شي.

په پای کې د مور او پلار او درنو ښوونکو څخه هیله ده چې د ماشومانو روزنه د هغوی په لاس کې ده، ستاسو روزنه سبا د هغوی نه یو نېک انسان یا بد انسان جوړوي، مور او پلار او ښوونکي په هر پړاو کې ماشومان د کوچنۍ او سترې بدې نه ژغورلی شي، په خاصه توګه د ښوونکو په لاسونو د یو ملت تعمیر کیږي، هغوی دې په پوره توګه هڅې وکړي چې د ماشومانو کړنې په بشپړ ډول اسلامي کړي، نن سبا په هیواد کې د فحشاء، بربنډتیا، بې ایماني، دروغو او لوبې په ګډون ګڼ شمېر ناوړه کړنې عامې شوي دي، دا خلک له ښوونځیو، پوهنتونونو او یونورسټیو نه له زده کړې او اسنادو ترلاسه کولو وروسته هم په ښکاره ډول په دې ناوړه چارو کې مبتلا دي چې لامل یې په ښه روزنه کې د مور او پلار او د ښوونکو

له لوري کمی دی، مور او پلار او ښوونکي زده کوونکي تر اسنادو پورې محدود ساتي، که ښه قوم جوړول وي، او غوره انسان جوړول وي نو د هغوی په بشپړه توګه لارښوونه او اخلاقي روزنه هم بايد وشي او دا يوائې او يوائې په مقامي/محلي ژبه کې د قرآن کريم په ښودلو سره کېدونکې ده.

د لمونځ ددې نه پرته هم څو ګټې او مصلحتونه دي.

1- **دژوند د مقصد يادول**: اړتيا وه چې د انسان ټول ژوند عبادت وګرځول شي تر څو انسان په دې يقيني شي چې د الله بنده دی، له همدې امله هره ورځ پنځه ځله ددې يادونې لپاره لمونځ فرض کړی شو چې هغه د دنيا چارې پرېږدي خپله ژمنه په ياد کړي او د ناوړه چارو نه ځان وساتي، لمونځ کونکی انسان د خپل رب څخه وېرېږي او د بې حيايي او د ناړوه چارو نه لرې اوسي ځکه چې د هغه ذهن د الله تعالی په ياد کې لګيا وي نو د بديو لورې ته د هغه پام کم وي او که په دې اړه فکر هم وکړي نو ددې احساس سره په دې باندې د عمل کولو نه وروسته کيږي چې الله تعالی ته به په کوم مخ ورځي، د لمونځ تر ټولو لويه ګټه دا ده چې لمونځ انسان د نيغې لارې نه کږېدلو ته نه پرېږدي او ناوړه چارو نه يې ساتي، په قرآن کريم کې اشاد دی:

اِنَّ الصَّلٰوۃَ تَنۡہٰی عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَ الۡمُنۡکَرِ ؕ (العنكبوت: 45)

**ژباړه**: "له شک پرته لمونځ تاسو له بې حيا کارونو او ګناهونو نه منع کوي."

2- **مسؤليت پېژندنه** : که انسان مسؤليت پېژندونکی نه وي نو پخپله د هغه ژوند به هم په بې پروايي کې تېرېږي کوم چې به پخپله د هغه لپاره د خفګان لامل ګرځي، له همدې کبله لمونځ په انسان کې د مسؤليت پېژندنې احساس پيدا کوي کله چې هغه په امادګي سره د لمونځ عادت کيږی نو د خپلو اهدافو په لاسته راوړلو کې هغه ته ډېره مرسته رسيږي.

3- **سيرت جوړونه** : د لمونځ دريمه ګټه د سيرت جوړول دي کوم چې انسان ته په

ژوند کې لو یه ګټه رسوي او د هغه لپاره دا سې لاره ټاکي چې پرې لاړ شي نو د ژوند په هره برخه کې به بریالی او بامراده وي او همدا سیرت دی چې دی له نورو خلکو نه ممتاز کوي، ښایي که د هغه له سیاست سره اړیکه او که له عدالت سره، که له تجارت سره یې اړیکه وي او که له کسب/صنعت سره، که سوله وي او که جګړه وي، مطلب دا چې د ژوند په هره برخه کې هغه ته بریا ورکوي.

4- **د نفس قابو کول**: خواهشات او نفسي غوښتنې انسان ارام ته نه پرېږدي ځکه هغه ته څه سکون نه حاصلیږي لیکن لمونځ انسان ته د نفس قابو کول ور زده کوي، د مثال په توګه هغه په یخنۍ کې په یخو اوبو سره اودس کوي، په یخنۍ کې سهار وختي پاڅیږي لمونځ ادا کوي په دې سره هغه خپل نفس د کنټرول لاندې راولي، هغه د بې حیاء او ناوړه چارو نه ځان ساتي.

5- **د ستونزو حل**: لمونځ زمونږ د ستونزو حل هم دی، رسول الله ﷺ ته به چې کله هم څه ستونزه ورپېښه شوه او یا به چې په کومه خبره غمجن شو نو لمونځ به یې کاوه، الهي فرمان دی:

وَ اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَ الصَّلٰوةِ ؕ وَ اِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ۝٤٥ (البقرة: 45)

**ژباړه**: "او په ستونزه او تکلیف کې په زغم او لمونځ سره مرسته ترلاسه کړئ، دا (لمونځ) ډېر درووند وي پرته له هغو خلکو چې د الله تعالی نه وېره لري."

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَ الصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۝١٥٣

(البقرة: 153)

**ژباړه**: "اې د ایمان خاوندانو ! په زغم او صبر سره (د الله تعالی) مرسته ترلاسه کړئ، له شک پرته چې الله تعالی د زغم کونکو سره دی."

6- **د شیطان نه پناه**: د لمونځ په ذریعه په ورځ کې پنځه ځله مونږ د رټل شوي شیطان څخه د الله تعالی پناه غواړو.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

**ژباړه:** "زه د رټل شوي شيطان نه د الله تعالى پناه غواړم."

7- **د وحدانيت اقرار:** مونږ په لمونځ کې د الله تعالى د وحدانيت اقرار کوو، هغه يو اځي واحد او لاشريک منو، د هغه يووالى تسليموو، د سورة اخلاص:

**ژباړه:** "ته ووايه چې الله يو دى، الله بې پروا دى، نه د هغه کوم اولاد شته او نه هغه له چا پيدا دى او نه د هغه څوک سيال شته."

8- **د الله تعالى د لويي او ستاينې وسيله:** د لمونځ په پيل کې مونږ د الله تعالى ستاينه کوو.

**ثناء:** ( اې الله مونږ ستا پاکي بيانوو او ستا ستاينه کوو او ستا نوم ډېر برکتناک دى او ستا عظمت ډېر لوړ دى او له تا پرته بل د عبادت وړ نشته. )

9- **د توحيد او رسالت شاهدي ورکول:** مونږ په ورځ کې پنځه ځله ددې خبرې شاهدي ورکوو چې له الله تعالى پرته د عبادت وړ څوک نشته او حضرت محمد ﷺ د الله تعالى رسول دى.

**تشهد:** ( زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته څوک د عبادت وړ نشته، او زه شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د الله بنده او رسول دى. )

10- **لمونځ د دعا غوره وسيله ده:** په دعا غوښتلو سره د الله تعالى د حکم پيروي کيږي، د الله تعالى حکم دى چې له مانه دعا وغواړئ، څنګه چې په قرآن کريم کې دي:

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ (غافر: 60)

**ژباړه:** "او ستا رب فرمايلي دي: له مانه دعا غواړئ زه يې قبلوم."

او لمونځ د دعا غوره وسيله ده، په دې کې مونږ پنځه وارې د الله تعالى نه دا دعا غواړو چې:

**ژباړه:** "ما د لمونځ پابندي کونکى وګرځوه، ماته زما مور او پلار او ټولو مسلمانانو

ته ښېښنه وکړه.“

څنګه چې زمونږ مسؤلیت دی چې باید مور او پلار ته دعا وکړو که هغوی ژوندي وي او که وفات شوي وي، په لمانځه کې هم دا دعا کوو چې:

**ژباړه:** ”مونږ په نېغه لاره روان کړه، د داسې خلکو په لاره چې تا پرې لورېینې کړې دي، نه د هغو خلکو په لاره په کومو چې ستا غضب نازل شوی، او نه د بې لاره شویو په لاره باندې.“

11- **د شکر ادا کولو غوره وسیله**: الله تعالی مونږ په زیاتو او بې شمېره نعمتونو نازولي یو او هغه ذات دی چې مونږ یې په ښکلي شکل پیدا کړي یو، مونږ ته یې لاسونه پښې، سترګې، غوږونه، زړه او دماغ راکړي دي، دنیا او په دنیا کې هر څه یې زمونږ لپاره تابع ګرځولي دي، انسان یې په ټولو مخلوقاتو کې غوره ګرځولی، هوا، اوبه، څرېدونکي، الوتونکي، بوټي هر څه یې د انسان لپاره پیدا کړي دي تر څو یې هغه په کارولو سره پرې خپلې اړتیاوې پوره کړي، الله تعالی هغه ذات دی چې خلکو ته رزق ورکوي، د هغوی دهوساینې او ارامتیا لپاره یې د نړۍ هر څه د هغوی تابع ګرځولي دي، انسان د الله تعالی له پیدا کړل شوي هر یو شي نه خوند اخلي، خو کله چې د هغه ذوالجلال رب د رحمتونو او برکتونو د شکر ادا کولو وخت راشي نو مونږ په دې معامله کې ډېر په ناشکرۍ کې پریوځو، مونږ خو د هغه د پیدا کړل شویو شیانو څخه ګټه اخلو خو د هغه ذات شکر ادا کول رانه هېرېږي، که د یوې دقیقې لپاره هوا ودرېږي نو انسان چې په خپل ځان دومره ویاړي ساه به هم وانخیستلی شي، خو انسان د هغو نعمتونو شکر نه ادا کوي، دا هم د انسان فطرت دی چې کله انسان ته کومه ستونزه مخې ته راځي نو الله یادوي خو څنګه چې هغه ستونزه هواره شي بېرته الله هېر کړي، په هر حالت او په هر ځای کې د الله تعالی د نعمتونو شکر ادا کول پکار دي او د الله تعالی د شکر ادا کولو غوره وسیله

لمونځ دی.

12- **لمونځ یو عبادت**: د لمونځ د ادا کولو په وخت کې بنده د خپل رب د عبادت کولو او د هغه نه د مرستې غوښتلو اقرار کوي، الله تعالی انسان د خپل عبادت لپاره پیدا کړی دی او لمونځ یو ډېر ستر عبادت دی، دا هم هغه څه دي چې د کافر او مسلمان ترمنځ توپیر راولي.

13- **پر رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د درود او سلام ویلو وسیله**: په لمونځ کې مونږ پر رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې درود او سلام لېږو.

14- **د قیامت په ورځ تر ټولو لومړۍ پوښتنه**: د قیامت په ورځ به تر ټولو لومړۍ پوښتنه د لمانځه په اړه کیږي، که لمونځ یې سم و نو بریا یې ترلاسه کړه او که په لمونځ کې یې نیمګړتیا وي نو هغه شرمنده شو او تاوان یې واخیست.

15- **د دنیا او اخیرت ښېګڼه**: د لمونځ او د اخیرت ښېګڼه په لمونځ قائمولو کې نغښتې ده، نن مونږ د دنیا په چارو کې تر دومره اندازې ننوتي یو چې د لمونځ په څېر ښایسته عبادت مو هېر کړی ناست یو، مونږ د دنیا د ټولو چارو لپاره وخت باسو خو کله چې د لمونځ پوښتنه رانه وشي نو ځواب یې دا دی چې "له مونږ سره وخت نه و" د تلویزیون کتلو ته وخت وي، د خوب لپاره وخت وي، د خوراک څښاک لپاره هم وخت وي، د کار روزګار کولو لپاره هم وخت وي خو که وخت نه پیدا کیږي نو یوائې د لمونځ لپاره... افسوس! او په دې پوهېږو هم چې د دنیا او اخیرت ښېګڼې یوائې په لمونځ قائمولو کې دي، څوک چې د لمونځ پابندي کونکی وي هغه به په دې نړۍ کې هم بریالی وي او په آخرت کې به هم کامیابي ترلاسه کړي.

مونږ د پورتنیو بیان شویو فوائدو نه یوائې هغه وخت زیاته ګټه اخیستلی شو کله چې مونږ د لمونځ په معنی او مطلب باندې وپوهېږو، ډېری وخت ګورو چې په ځینې وختونو کې مو په لمونځ کې زړه نه لګیږي، کله چې لمونځ پیلوو نو شیطان

او زمونږ نفس په پوره قوت سره په مقابله کې راځي چې له امله یې په زړګونو ډول وسوسې او سوچونه راځي چاپېره کیږي او د زړه توجه او د روح سکون له منځه وړي بلکې ډېرې وخت دا هم په یاد نه پاتې کیږي چې ما څو رکعتونه وکړل، په داسې حالت کې د لمانځه د پرېښودلو وېره پیدا کیږي، په قرآن کریم کې دي:

حَتّٰی تَعۡلَمُوۡا مَا تَقُوۡلُوۡنَ (النساء: 43)

**ژباړه:** "لمونځ هغه وخت وکړئ کله چې تاسو پوهېږئ چې څه وایئ."

د لمانځه د پوره والي او ښکلا لپاره باید هڅه وشي چې غوره طریقه یې د لمانځه په ژباړه پوهېدل دي، په ژباړه باندې یې په پوهېدلو سره مونږ هغه د زړه سکون او ارامتیا ترلاسه کولی شو، د لمانځه د دعاګانو او مطالبو په پام کې نیولو سره په لمونځ کولو د شیطاني وسوسو نه ژغورېدلی شو او د الله تعالی سره د خبرو کولو شرف ترلاسه کولای شو، د الله تعالی فرمان دی:

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ۙ﴿۱﴾ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ۙ﴿۲﴾ مٰلِكِ یَوۡمِ الدِّیۡنِ ؕ﴿۳﴾ اِیَّاكَ نَعۡبُدُ وَ اِیَّاكَ نَسۡتَعِیۡنُ ؕ﴿۴﴾ اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِیۡمَ ۙ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِیۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَیۡهِمۡ ۬ۙ غَیۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَیۡهِمۡ وَ لَا الضَّآلِّیۡنَ ﴿۷﴾ (الفاتحة: 1-7)

**ژباړه:** "شروع د لوی څښتن تعالی په نامه چې ډېر مهربان او ډېر رحم کونکی دی، ټولې ستاینې د الله لپاره دي کوم چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، لوی مهربان او ډېر رحم کونکی دی، د قیامت د ورځې بادشاه دی، اې الله مونږ ستا عبادت کوو او له تانه مرسته غواړو، مونږ ته نېغه لاره وښایه، د هغو خلکو لاره چې تا پرې لورېینې کړې دي، نه د هغو خلکو لاره چې ستا په غضب اخته دي او نه د بې لاره شویو لاره."

د سورة فاتحې ژباړه یادول او ځان پرې پوهول خورا مهم دي ځکه چې دا آیاتونه د

ټول قرآن کریم لنډیز بیانوي، د آیاتونو د ژباړې نه څرګندیږي چې مونږ د خپل رب سره دوه ژمنې کوو: لومړۍ ژمنه: اِيَّاكَ نَعْبُدُ (مونږ ستا عبادت کوو).

د عبادت کلمه له عبد څخه اخیستل شوې چې د غلام معنی لري، غلام د هر کار په کولو کې د خپل بادار د حکم پابند وي، له همدې امله کله چې مونږ په لمونځ کې وایو "اِيّاكَ نَعْبُدُ" نو مونږ د خپل بادار الله تعالی سره ژمنه کوو چې مونږ به هر کار ستا له حکم سره سم ترسره کوو.

څومره لویه ژمنه ده کومه چې مونږ له الله تعالی سره کوو خو د ترسره کولو په وخت کې په مونږ کې ډېری خلک له دې نه سرغړونه کوي نو کله دنیا، کله ورورولي او ډېر یې خپل نفس حاکم جوړوي، ایا داسې بنده ددې حق لري چې د الله غلام ورته وویل شي؟ کله چې یو غلام خپله دنده په سمه توګه ترسره نه کړي نو بادار په هغه باندې معاش بندوي، د ابلیس سره ډېر علم و، د الله تعالی عبادت یې هم کاوه، هغه کله کوم دروغ نه و ویلي، کله یې شرک نه و کړی، ژمنه یې نه ماتوله، هغه غیبت نه وکړی، غلا یې نه وه کړې، ملاوټ/دوکه یې نه وه کړې، د چا حق یې نه و خوړلی، یواځې او یواځې د الله تعالی د یو حکم څخه یې سرغړونه وکړه په کوم سره چې ورته داسې سزا ورکړل شوه چې تر قیامته یې له جنت څخه واېست.

لږ فکر وکړئ ! مونږ نن څومره سرغړونکي شوي یو، په ورځ کې پنځه ځله مؤذن د لمانځه لپاره بلنه ورکوي مګر مونږ یې له پامه غورځوو، قرآن کریم نه لولو، ژمنه سر ته نه رسوو، رشوت عام دی، ملاوټ/دوکې کیږي، دروغ په عامه توګه ویل کیږي، غلاګانې کیږي، مطلب دا چې هره بدي شتون لري.

چې په یوه سرغړونه شیطان ورټلی شو نو ایا مونږ به وبښلی شو؟

**دوهمه ژمنه:** "اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ" (او مونږ له تا نه مرسته غواړو).

کله چې مونږ د الله تعالی غلامان یو نو چې کله هم مونږ له کومې ستونزې سره مخ

شو نو مونږ د مرستې لپاره هم باید الله تعالی راوبولو که داسې ونه کړو نو زمونږ مالک کوم چې په هر څه باندې قدرت لري له مونږ نه خفه کیږي او مونږ له خپلې غلامۍ څخه باسي او مونږ به مشرکان شو چې سزا یې الله تعالی د تل لپاره دوزخ ټاکلې دی.

## د اودس بیان

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ (المائدة: 6)

**ژباړه:** "اې د ایمان خاوندانو ! او کله چې تاسو د لمونځ لپاره پورته شئ نو خپل مخونه ووینځئ او خپل لاسونه تر څنګلو پورې او په خپلو سرونو مسح وکړئ او پښې ووینځئ تر ببړیو/پړکیو پورې."

(یادونه) د لمونځ لپاره اودس ضروري دی پرته له اودسه لمونځ نه کیږي.

## د اودس طریقه

لومړی د پاکي حاصلولو او د ثواب موندلو نیت وکړئ او په بسم الله ویلو سره دری ځله دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې ووینځئ، بیا دری ځله په خوله اوبه ورغړوئ او مسواک ووهئ، بیا دری واري په پوزه کې اوبه واچوئ او په کیڼ لاس پوزه پاکه کړئ، بیا دری ځله مخ ووینځئ چې د تندي له وېښتانو نیولې د زنې تر لاندې پورې او د دواړو غوږونو تر نرمیو پورې هیڅ کوم ځای وچ پاتې نه شي او که ږیره وي نو خلال یې کړئ، بیا دری ځله دواړه لاسونه تر څنګلو پورې لومړی ښی لاس او بیا کیڼ لاس ووینځئ، بیا په نویو اوبو سره دواړه لاسونه لامده او په ټول سر یو ځل مسح وکړئ داسې چې د تندي د وېښتانو نه د دواړو لاسونو دری ګوتې هوارې کړل شوې تر څټ پورې یوسئ او بیا د څټ نه ورغوي هوار بېرته (د مخ لوري ته) راکش

کړئ بيا د شهادت په ګوتو د غوږونو دننه برخه او د ګوتې په واسطه د غوږ بهرنۍ برخه او د ګوتو په شا باندې د غاړې مسح وکړئ، بيا درې ځله دواړه پښې لومړۍ ښۍ پښه او بيا ګېنه پښه تر ښېړيو پورې په کيڼ لاس باندې ووينځئ او د ګوتو خلال وکړئ، دا کومه طريقه چې ذکر شوه په دې کې ځينې د اودس فرضونه ځينې سنتونه او ځينې مستحبات دي چې تفصيل يې دا دی:

## د اودس فرائض

له دې نه پرته اودس نه کيږي او دا څلور دي:

1- مخ وينځل 2- دواړه لاسونه تر څنګلو وينځل 3- د سر د څلورمې برخې مسح کول 4- دواړه پښې سره له ښېړيو وينځل.

## د اودس سنتونه

لومړی نيت کول، په بسم الله ويلو سره يې پيلول، دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې وينځل، خولې ته اوبه اچول، مسواک وهل، په پوزه کې اوبه اچول، د ږيرې خلالول، د ټول سر مسح کول، د غوږونو مسح کول، پرلپسې اودس کول چې لومړی اندام وچ نه شي، په ترتيب سره اودس کول، هر د وينځلو والا اندام درې ځله وينځل.

## د اودس مستحبات

د غاړې مسح کول، د قبلې لورې ته مخ کول، په پاک او لوړ ځای کېناستل، د اوبو اچولو پر وخت په اندامونو لاس تېرول، له اړتيا پرته له بل نه مرسته نه اخيستل، دنياوي خبرې نه کول، زياتې شوې اوبه لږ څه په ولاړه څښل، له اودس نه وروسته د شهادت کلمه او دا دعا لوستل:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِىْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِىْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ وَاجْعَلْنِىْ مِنْ عِبَادِكَ الصَّالِحِيْنَ

**ژباړه:** "اې الله ما له توبه کونکو، پاکو او نېکو خلکو څخه وګرځوه"

## په دې شیانو سره اودس ماتیږي

بولې، او د اودس ماتې له ځای څخه د څه شي وتل، پیپ/دزخم نه اوبه وتل او په بدن باندې بهېدل، په ډکه خوله کانګې کول، په تکیه لګولو یا څملاستلو سره ویده کېدل، په لمونځ کې په قهقهه سره خندل، د کوم څه له امله بې هوښه کېدل، د دردمنې سترګې نه اوبه بهېدل.

## څوارېنې مسئلې

د اودس په منځ کې که هوا ووځي یا کوم داسې څه وي چې اودس پرې ماتیږي بېرته به له سره اودس کوي هغه اول وینځل شوي اندامونه هم داسې شول لکه چې نه وي وینځل شوي، قرآن کریم ته بې اودسه لاس ور وړل روا نه دي، د جنبي لپاره د ویده کېدلو یا خوراک څښاک کولو نه وړاندې اودس کول سنت دي، وینه یا پیپ که په وتلو سره ونه بهیږي نو اودس نه ماتیږي، که د چا له زخم نه هر وخت وینه یا پیپ روان وي یا ورته تل د متیازو څاڅکې راځي یا ترې هوا وځي نو دا کس به د هر لمونځ لپاره اودس کوي د هغه لمونځ کیږي ځکه چې هغه معذور دی، تر څو چې وخت پاتې وي د هغه اودس به باقي وي.

## د غسل بیان

وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ؕ (المائدۃ: 6)

**ژباړه:** "او که تاسو په جنابت کې وئ نو ښه ځان پاک کړئ"

## د غسل مسنونه طريقه

لومړی دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې ووينځئ بيا استنجاء وکړئ او په کوم ځای چې پليتي وغيره وي هغه لرې کړئ، بيا اودس وکړئ له اودس نه وروسته لومړی په ښي اوږه درې وارې او بيا په کيڼه اوږه درې وارې بيا درې ځله په سر باندې او په ټول بدن باندې اوبه واچوئ د چا سره مخ کېدل او خبرې مه کوئ.

د غسل درې فرائض دي: 1- غرغره کول، داسې چې اوبه د ستونې تر بېخه پورې ورسيږي 2- په پوزه کې اوبه اچول تر کوم ځای پورې چې نرمه برخه ده چې هغه ووينځل شي 3- په ټول بدن اوبه تېرول چې کوم ځای وچ پاتې نه شي.

## په کومو صورتونو کې چې غسل فرض دی

1- په شهوت سره د مني وتل 2- په خوب کې احتلام کېدل 3- ښځه او سړی چې کوروالی وکړي که مني ووځي او که ونه وځي 4- ښځه چې له حيض څخه پاکه شي 5- نفاس ختمېدل يعنې د ماشوم د پيدائښت نه وروسته د راتلونکې وينې بندېدل.

## دا غسل مسنون دی

د جمعې د لمانځه او د دواړو اخترونو د لمونځونو لپاره، د احرام تړلو پر وخت او د عرفې په ورځ غسل کول سنت دي.

## دا غسل مستحب دی

د وقوف د عرفې او د وقوف د مزدلفې، حرم شريف ته د حاضرېدلو او د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دربار ته د حاضرېدلو د برائت د شپې او د قدر د شپې وغيره لپاره غسل کول مستحب دي.

## مړي ته د غسل ورکولو اسلامي طریقه

د مړي لاندینی څادر وباسئ او له پاسه پرې د پوخ رنګ څادر واچوئ تر څو په لمدېدلو سره یې پرده وساتل شي که د مړي جامې په اسانۍ سره نه وتلې نو په احتیاط سره یې پرې کړئ، پرې کونکی لاس دې د مړي د جامو او بدن په مینځ کې وي او قینچي باید نوک لرونکې نه وي، په دې وخت کې به له پاسه اچول شوی څادر پورته پاتې شي او د امکان تر حده دې له پردې سره مړي ته غسل ورکړل شي تر څو یې په عورت سترګې ونه لګیږي، مړی د ناستې اندازې ته نږدې کړئ او له بهر نه یې په خیټه په ورو ورو زور وکړئ تر څو کوم څه چې وتونکي دي هغه ووځي، بیا ورته په څملولو سره استنجاء وکړئ.

د پاکوالي (استنجاء) کولو لپاره دستکشې ورته اغوستل ضروري دي، د مړي کیڼ زنګون به په ورو پورته کړئ په جامه/ټوکر یا د پنبې په ټوټو سره یې ښه پاک کړئ او مسلسل اوبه به پرې واچوئ او کارول شوې دستکشې به وباسئ او په ټوکرۍ یا کڅوړه کې به یې واچوئ.

نوې دستکشې به په لاس کړئ، د مړي بدن باید براه راست لمس نه کړی شي، او اودس به ورته ور وکړئ.

**اودس**: لومړی به د مړي لاسونه ووینځئ (هر عمل درې درې ځله او د ښي لوري څخه یې پیل کړئ) بیا لامده مالوچ یا جامه د ښي لوري نه کیڼ لوري ته په کش کولو سره یې پرې د شونډو دننه برخه او غاښونه پاک کړئ او شونډو ته په لږ زور ورکولو سره یې خوله بنده کړئ، همدا راز لامده مالوچ ونښتېځئ پوزه او د غوږنو نرمۍ یې پرې پاک کړئ او پاک مالوچ یې په پوزه او غوږونو کې کېږدئ کوم چې له غسل نه وروسته لرې کیږي، اوس یې مخ ووینځئ لومړی یې ښی لاس او بیا کیڼ لاس تر څنګلو پورې ووینځئ او د سر مسح یې وکړئ، په پای کې یې لومړۍ ښۍ پښه او

بیا کینه پښه ووینځئ، سر یې په شېمپو یا صابون سره ووینځئ، له ښي اړخ نه په غسل پیلولو سره یې لومړی دښی اوږې نه تر پښې پورې ووینځئ بیا یې په ورو په اړخ واړوئ او له لاندې خوا هم تولهٔ ښي برخه ووینځئ.

همدا کړنه په کیڼ اړخ کې هم تکرار کړئ د ضرورت مطابق په طاق شمېر کې ۳، ۵، ۷ ځله د **غسل** اوبه په مړي واړوئ په پای کې پرې د کافور اوبه واچوئ، له پاسه په لامده څادر باندې وچ څادر وغوړوئ لوند څادر وباسئ او د مړي لاندې هم یو وچ څادر وغوړوئ.

بیا یې په ځانپاک سره بدن او وېښتان وچ کړئ، وېښتان هم ورته ږمنځ کولی شئ که وېښتان برابرول سخت وي نو د سر د رومال بندولو پر وخت وېښتان شاته واړوئ، مړي ته په **غسل** ورکولو کې پوره چوپتیا اختیار کړئ، په دې وخت کې هیڅ ډول دعا، **نعتونه** او شعرونه ویل د سنتو **څخه** ثابت نه دي.

**کفن اچول:** د کټ په منځ کې به په پلنوالي باندې یوه پراخه کلکه پټه/بند واچوي ترڅو قبر ته د ښکته کولو په وخت کې ترې کار واخیستل شي، د کفن د بندولو لپاره د کټ په منځ کې یو لوی بند واچوئ او د سر او پښو لوري ته کوچني بندونه واچوئ بیا په کټ باندې د بندونو له پاسه سپین څادر واچوئ،د سپین څادر له پاسه به د قمیص شاته برخه سیده کړئ او د سر لوري ته به یې یوځای کړئ، ددې له پاسه تر پښو پورې به تهبند واچوئ، بیا به سینه بند له غاړې نه تر زنګنونو پورې واچوئ.

**کفن وراغوستل:** دوه کسان به د مړي لاندینی څادر د سر او پښو له لوري ونیسي، او دوه نور کسان به د څادر لاندې د ملا پرځای کلکه جامه واچوي او په دې کې به ترې کار واخیستل شي چې مړی له تختې نه کټ ته واړوي، په کوم چې کفن له وړاندې نه اچول شوی دی،(په یاد ولرئ چې زیاتې کفن سره راټول نه شي ځکه چې

د مړي له اېښودلو وروسته يې سمول ستونزمن کیږي )

مړی به په اړخ واړوئ او ځادر به ترې وباسئ او پورتنۍ ځادر به نه لرې کوئ په دې کې دننه به د کفن اغوستلو کړنه ترسره کیږي، د هرې جامې ښۍ برخه به دننه او کینه برخه به پورته راځي او یو څه کلک به يې تاو کړئ مړی به په تهبند کې هم ونغاړئ، ټولې جامې به یو څه کلکې ونغاړئ، د سر لورې ته د ورکړل شوې جامې د قمیص د پرې کړی شوې برخې نه به يې سر راوباسئ او جامه به د مړي په سینه واچوئ او د ځنګونو څخه به يې په ښه ډول زور کړئ، د سر رومال به د مړي د تندي او له غوږونو تاو او د څټ لوري ته به يې بوزئ شاته لاندې به يې وتړئ، چې پکې ټول وېښتان په سم ډول دننه شي.

د پردې لپاره اچول شوی پورتنی ځادر به اوس لرې کړئ او د کفن لوی ځادر به ورته په تاوولو سره په سر، پښو او ملا کې په غوټه کولو سره بند کړئ، په قبر کې د اېښودلو پرمهال به دا غوټې وسپړئ، مړي ته د غسل او کفن ورکولو نه چې فارغ شئ اودس به وکړئ البته غسل کول مستحب (غوره) عمل دی.

**یادونه**: په ځینو بېړنیو حالاتو کې که دا ټول شیان شتون ونه لري او یا د مړي حالت داسې وي چې غسل نه شي ورکولی نو تیمم هم ورکولی شي، په داسې خاص حالاتو کې که د کفن په ډول یوه جامه هم موجوده وي نو ورته کفن کولی يې شي، د اړتیا په وخت کې یو سړی هم غسل ورکولی شي.

د شپې تر ناوخته پورې ویښ پاتې کېدل او سهار ناوخته را پورته کېدل په رزق کې د تنګۍ او بې برکتۍ لامل ګرځي

# شپږ کلمې

## لومړۍ کلمه طیبه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ

له الله نه پرته بل د عبادت وړ نشته او محمد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ د الله رسول دی.

## دویمه کلمه شهادت

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهٗ

زه شاهدي ورکوم چې د الله تعالی نه پرته بل معبود نشته هغه یو اځې دی د هغه هیڅ شریک نشته او زه شاهدي ورکوم چې محمد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ د الله بنده او رسول دی.

## دریمه کلمه تمجید

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَکْبَرُ ؕ وَ لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ

الله تعالی پاک دی او ټولې ستاینې الله لره دي او د الله نه پرته هیڅ معبود نشته او الله ډېر لوی دی، د ګناهونو نه د بچ کېدلو طاقت او د نېکۍ کولو قوت (توفیق) نشته مګر د الله له لورې څخه دی کوم چې ډېر اوچت او د عظمت خاوند دی

## څلورمه کلمه توحید

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ یُحْیٖ وَ یُمِیْتُ وَ هُوَ حَیٌّ لَّا یَمُوْتُ اَبَدًا اَبَدًا ؕ ذُو الْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ ؕ بِیَدِهِ الْخَیْرُ وَ هُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ؕ

د الله تعالی نه پرته هیڅ د عبادت وړ نشته هغه یو اځې دی د هغه هیڅ شریک نشته، د هغه لپاره بادشاهي ده او د هغه لپاره ستاینې دي هغه ژوندي کول او مړه کول کوي هغه ژوندی دی او هغه ته هیڅکله مرګ نه راځي د ستر جلال او لویي خاوند دی، ښېګڼې د هغه په لاس/واک کې دي او هغه په هر څه قدرت لرونکی دی.

## پنځمه کلمه استغفار

أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ رَبِّيْ مِنْ كُلِّ ذَنْۢبٍ اَذْنَبْتُهٗ

زه د الله نه ښښنه غواړم کوم چې زما پالونکی دی د هرې ګناه څخه

عَمَدًا اَوْ خَطَاً سِرًّا اَوْ عَلَانِيَةً وَّ اَتُوْبُ اِلَيْهِ مِنَ الذَّنْۢبِ

کومه چې ما په قصدي ډول کړې ده یا مې په هېره سره کړې ده، په پټه مې کړې ده او که په ښکاره مې کړې ده

الَّذِيْٓ اَعْلَمُ وَ مِنَ الذَّنْۢبِ الَّذِيْ لَآ اَعْلَمُ، اِنَّكَ اَنْتَ

او زه د هغه په دربار کې توبه کوم د هغې ګناه څخه په کومه چې زه پوهېږم او د هغې ګناه څخه چې زه پرې نه پوهېږم، (اې الله) بېشکه

عَلَّامُ الْغُيُوْبِ وَ سَتَّارُ الْعُيُوْبِ وَ غَفَّارُ الذُّنُوْبِ،

ته په غیبو پوهېدونکی یې او د عیبونو پټونکی یې او د ګناهونو ښښونکی یې او د ګناه څخه د بچ کېدلو طاقت

وَ لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ

او د نېکۍ کولو قوت (توفیق) نشته مګر د الله له لورې څخه دی کوم چې ډېر اوچت او د عظمت څښتن دی.

## شپږمه کلمه رد کفر

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ

اې الله زه ستا پناه غواړم ددې خبرې نه چې کوم شی له تا سره شریک جوړ

شَيْئًا وَّ اَنَا اَعْلَمُ بِهٖ، وَ اَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَآ اَعْلَمُ بِهٖ، تُبْتُ

کړم او چې زه پرې پوهېږم، او زه ښښنه غواړم له تانه د هغه (شرک/ګناه) چې زه پرې نه پوهېږم او ما

عَنْهُ وَ تَبَرَّاْتُ مِنَ الْكُفْرِ وَ الشِّرْكِ وَ الْكِذْبِ وَالْغِيْبَةِ

ترې توبه کړې ده او زه بېزار یمه د کفر نه، او د شرک نه، او د دروغو نه او د غیبت نه،

وَالْبِدْعَةِ وَالنَّمِيْمَةِ وَالْفَوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِيْ

او د بدعت نه، او د چغلخورۍ نه، او د بې حیایي د کارونو نه او د تور لګولو نه، او د ټولو ګناهونو نه،

كُلِّهَا، وَ اَسْلَمْتُ وَ اَقُوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

او ما اسلام راوړی دی او زه وایم چې د الله نه پرته بل د عبادت وړ نشته او محمد ﷺ د الله رسول دی.

# دَ لمونځ بیان

په مسلمانانو باندې د الله تعالی په ټاکل شويو فرائضو کې تر ټولو لويه فريضه لمونځ دی، د قرآن کريم او احاديثو لوستونکي پوهيږي چې لمونځ څومره اړين او ضروري دی او ددې د پرېښودلو عواقب څومره سخت او ويرونکي دي:

**راځئ چې څو الهي لارښوونې وګورو:**

| | |
|---|---|
| ۱۔ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝۲ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝۳ (البقرة:۲۔۳) | (قرآن) د هغو پرهېزګارانو لپاره هدايت دی کوم چې په غيبو ايمان لري او لمونځ قائموي او زمونږ له ورکړل شوي رزق څخه مصرف کوي. |
| ۲۔ حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَ الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۗ وَ قُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ۝۲۳۸ (البقرة:۲۳۸) | د ټولو لمونځونو ساتنه کوئ په خاصه توګه د منځني (د مازديګر) لمونځ او د الله په وړاندې په ادب سره درېږئ. |
| ۳۔ رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّ لَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ اِقَامِ الصَّلٰوةِ وَ اِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَ الْاَبْصَارُ ۝۳۷ (النور:۳۷) | (صالحين) سړي هغه دي چې د هغوی تجارت او اخيستل خرڅول هغوی د الله له ياد او لمونځ کولو او زکوة ورکولو څخه نه غافله کوي، دوی د قيامت له هغې ورځې وېرېږي په کومه کې به چې ډېر زړونه او سترګې اوړي را اوړي/مضطرب به وي. |
| ۴۔ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝۴ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝۵ (الماعون:۴۔۵) | خرابي ده د هغو لمونځ کوونکو لپاره کوم چې د خپل لمونځ له اهميت نه نا خبره دي . يعنې بې وخته يې کوي او کله يې کوي کله يې نه کوي. |

| | |
|---|---|
| ۵۔ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾ (مريم: ۵۹) | نو له هغوی نه وروسته داسې بد ځای ناستي پيدا شول چې لمونځونه يې ضائع کړل او د نفساني خواهشاتو پسې ولګېدل نو زر ده چې له ((غی)) سره به مخامخ شي. |

"غی" د دوزخ په لاندينۍ برخه کې د يوې څاه/کندې نوم دی په کوم کې چې د دوزخيانو پيپ او وينې غورځېږي.

| | |
|---|---|
| ۶۔ فِىۡ جَنّٰتٍ ۛ يَتَسَآءَلُوۡنَ ﴿۴۰﴾ عَنِ الۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۴۱﴾ مَا سَلَكَكُمۡ فِىۡ سَقَرَ ﴿۴۲﴾ قَالُوۡا لَمۡ نَكُ مِنَ الۡمُصَلِّيۡنَ ﴿۴۳﴾ وَ لَمۡ نَكُ نُطۡعِمُ الۡمِسۡكِيۡنَ ﴿۴۴﴾ | په جنت کې به جنتيان د مجرمينو څخه پوښتنه کوي تاسو کوم جرم دوزخ ته ورسولئ؟ هغوی به ووايي مونږ لمونځونه نه کول او په مسکينانو مو خوراک نه کاوه. |
| ۷۔ **دَ خليل دعا:** رَبِّ اجۡعَلۡنِىۡ مُقِيۡمَ الصَّلٰوةِ وَ مِنۡ ذُرِّيَّتِىۡ ۖ رَبَّنَا وَ تَقَبَّلۡ دُعَآءِ ﴿۴۰﴾ (ابراهيم: ۴۰) | اې زما ربه! ما او زما اولاد د لمونځ قائمونکي وګرځوه، اې زمونږ ربه! زما دعا قبوله کړه. |
| ۸۔ **په موسی عليه السلام باندې لومړنۍ وحی:** اِنَّنِىۡۤ اَنَا اللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعۡبُدۡنِىۡ ۙ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكۡرِىۡ ﴿۱۴﴾ (طٰهٰ: ۱۴) | په حقيقت کې زه الله يم له ما پرته بل معبود نشته، نو زما بندګي کوه او زما د ياد لپاره لمونځ قائم کړه. |
| ۹۔ **دَ مور په غېږ کې دَ موسی عليه السلام خبرې:** اِنِّىۡ عَبۡدُ اللّٰهِ ۛؕ اٰتٰنِىَ الۡكِتٰبَ وَ جَعَلَنِىۡ نَبِيًّا ﴿۳۰﴾ وَّ جَعَلَنِىۡ مُبٰرَكًا اَيۡنَ مَا كُنۡتُ ۖ وَ اَوۡصٰنِىۡ بِالصَّلٰوةِ وَ الزَّكٰوةِ مَا دُمۡتُ حَيًّا ﴿۳۱﴾ | زه د الله بنده يم هغه ماته کتاب راکړی او زه يې نبي ګرځولی يم او زه يې برکتناک ګرځولی يم هر چېرته چې زه يم او هغه ماته په لمونځ کولو او زکوة ورکولو امر کړی تر څو چې زه ژوندی يم |

| | |
|---|---|
| ۱۰۔ **دَ لقمان نصیحت:** يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَ اْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَ انْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ (لقمان: ۱۷) | اې زما زویه ! لمونځ قائموه او (خلکو ته) د نېکۍ حکم کوه او له بدیو څخه منع کوه. |
| ۱۱۔ **دَ ایمان دَ خاوندانو شان:** وَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ يُطِيْعُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝۷۱ (التوبة: ۷۱) | مؤمن سړي او مؤمنې ښځې د یو بل مرستندوی دي، د نېکیو حکم کوي او له بدیو څخه منع کوي او لمونځ قائموي او زکوة ورکوي او د الله او د هغه د رسول تابعداري کونکي دي، همدوی دي چې الله تعالی به پرې رحم کوي، بېشکه الله غالب او د حکمت څښتن دی. |
| ۱۲۔ **پنځه وخته لمونځ:** وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَ زُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ؕ (هود: ۱۱۴) | او لمونځ قائموه د ورځې په دواړو طرفونو کې (یعنې د سهار او ماښام) او د شپې په هغو ساعتونو کې چې (ورځې ته) نږدې دي. (یعنې ماخستن، وتر، تهجد) |
| ۱۳۔ حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَ الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۗ (البقرة: ۲۳۸) | د ټولو لمونځونو ساتنه وکړئ په خاصه توګه د منځني لمونځ (د مازدیګر) |
| ۱۴۔ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ (الاسراء: ۷۸) | لمونځ قائم کړه د لمر د زوال پر وخت (یعنې ماسپښین) |

د ۱۲ آیت نه د سهار، ماښام او ماخستن لمونځ د ۱۳ آیت نه د مازدیګر لمونځ او د ۱۴ آیت نه د ماسپښین لمونځ ثابتیږي.

مطلب دا چې په هر عاقل، بالغ مسلمان سړي او ښځه باندې پنځه وخته لمونځ فرض عين دی، ددې له فرضيت نه انکار کفر دی او له شرعي عذر پرته يې پرېښودل لويه ګناه ده، داخالص بدني عبادت دی په دې کې نائب والی نه جاري کېږي يعنې دده له لوري څخه يې بل نه شي کولی او نه ددې په بدل کې په ژوند څه مال د فديې په ډول ورکولی شي، دا دين ستن ده او ددې قائمول د دين قائمول دي دا په سفر او حضر/قيام په يو حالت کې معاف نه دی، تر دې چې که د ناروغتيا وغيره له امله يې په ولاړه نه شي کولی نو په ناسته به يې کوي، که په ناسته يې هم نه شي کولی نو په ملاسته به يې کوي، دا په جماعت سره ادا کول د ځانته ادا کولو نه ۲۷ درجې پورته دی.

## ثنا

| | |
|---|---|
| قيام/ولاړه | سُبۡحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمۡدِكَ وَ تَبَارَكَ اسۡمُكَ<br>پاک يې ته اې الله زه ستا ستاينه کوم، ستا نوم مبارک دی |
| | وَ تَعَالٰى جَدُّكَ وَ لَاۤ اِلٰهَ غَيۡرُكَ ط<br>او ستا شان ډېر لوړ دی او له تا پرته هيڅ معبود نشته. |

که په جماعت سره د امام پسې لمونځ پيل کړي نو په ثناء لوستلو سره به چپ شي او د امام قرائت به اوري او که يواځې وي نو د ثناء نه وروسته دې تعوذ او تسميه، سورة فاتحه او يو بل سورة ولولي.

| | |
|---|---|
| تعوذ | اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ○<br>زه د الله پناه غواړم د رټل شوي شيطان څخه. |
| تسميه | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ○<br>شروع د څښتن تعالی په نامه چې مهربان او زيات رحم کونکی دی. |

| | |
|---|---|
| **سورة فاتحه** | اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١ الرَّحْمٰنِ |
| | ټولې ستاینې الله لره دي کوم چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی ډېر مهربان |
| | الرَّحِيْمِ ۝٢ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝٣ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ |
| | او زيات رحم کونکی دی، د قیامت د ورځې بادشاه دی (اې الله) مونږ ستا عبادت کوو او له تانه |
| | نَسْتَعِيْنُ ۝٤ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝٥ صِرَاطَ |
| | مرسته غواړو، مونږ په مستقیمه لاره روان کړه، د هغو خلکو په لاره چې تا پرې |
| | الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ |
| | نعمتونه لورولي دي، نه د هغو خلکو لاره چې (ستا) په غضب اخته دي |
| | وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝٧ دا دې مقتدی په ورو آواز سره ووایي اٰمِيْنَ |
| | او نه د بې لارو خلکو په لاره باندې، ربه زمونږ دعا قبوله کړه. |
| **سورة اخلاص** | قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝١ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝٢ |
| | ووایه ! هغه الله یو دی، الله بې نیازه/بې پروا دی، نه له چا نه زېږېدلی |
| | لَمْ يَلِدْ ۙ وَ لَمْ يُوْلَدْ ۝٣ وَ لَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝٤ |
| | او نه ترې څوک زېږېدلي، او د هغه هیڅوک سیال نشته. |

بیا به په الله اکبر ویلو سره رکوع ته لاړ شئ او زنګنونه د لاسونو په ګوتو ټینګ ونیسئ او دومره به ښکته شئ چې سر او ملا سره برابر شي او لږ تر لږه درې کرته ووایئ !

| | |
|---|---|
| **دَ رکوع تسبیح** | سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ط |
| | پاک دی زما رب د عظمت څښتن. |

که جماعت وي نو د رکوع نه په پورته کېدو کې به یوازې امام تسمیع وایي.

| | |
|---|---|
| **تسمیع** | سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ط |
| | الله واورېدل چا يې چې ستاينه وكړه. |

**قومه:** بیا به د دواړو لاسونو په پرېښودو سره نېغ ودرېږي او مقتدي به تحمید ووايي.

| | |
|---|---|
| **تحمید** | رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ط |
| | پاک دی زما پالونکی ډېر اوچت. |
| **دَ سجده تسبیح** | سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ط |
| | پاكي ده رب زما لره چې اوچت شان والا دي |

**جلسه:** بیا د الله اکبر په ویلو سره د سجدې نه د اسې را پورته شئ چې لومړی تندی بیا پوزه بیا لاسونه را پورته کړئ او کینه پښه هواره کړئ او پرې کېنئ او ښی پښه ولاړه وساتئ چې ګوتې يې د قبلې لورې ته وي او لاسونه په ورنونو زنګنونو ته نږدې کېږدئ چې ګوتې د قبلې لورې ته وي بیا د الله اکبر په ویلو سره

**دویمه سجده:** همداسې دویمه سجده وکړئ او بیا د الله اکبر په ویلو سره ودرېږئ.

**قیام/ولاړه:** تسمیه، فاتحه او یو سورة ولولئ او همداسې رکوع او سجدې وکړئ لیکن د امام پسې به مقتدي بسم الله، فاتحه او سورة نه لولي هغه به غلی ولاړ وي.

**قعده/ ناسته:** د دویم رکعت د دواړو سجدو نه وروسته همداسې کېنئ څنګه چې د دوو سجدو په مینځ کې ناسته ده.

| | |
|---|---|
| **تشهد** | اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبٰتُ ط اَلسَّلَامُ |
| | ټول قولي عبادتونه او ټول فعلي عبادتونه او ټول مالي عبادتونه الله لره دي، سلامتیا دې وي |
| | عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللّٰهِ وَ بَرَكَاتُهٗ ط اَلسَّلَامُ |
| | په تا باندې اې پیغمبره! او د الله رحمتونه او دهغه برکتونه دې وي، سلامتیا دې وي |

| |
|---|
| عَلَيْنَا وَ عَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ |
| پر مونږ باندې او د الله تعالی په نېکو بندګانو باندې، زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل |
| اِلَّا اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهٗ |
| معبود نشته او زه شاهدي ورکوم چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی. |

کله چې په تشهد کې د "لا" کلمې ته ورسېږئ نو د ښي لاس د مينځ او بتې ګوتې نه حلقه جوړه کړئ او خچه او ورسره خواته ګوته د ورغوي سره پيوستې کړئ او د "لا" په کلمه د شهادت ګوته پورته کړئ او په "الّا" سره يې بېرته ښکته کړئ او ټولې ګوتې سمدلاسه بيرته سيده کړئ، که دوه رکعتيز لمونځ وي نو ددې تشهد نه وروسته درود شريف او دعا ولولئ او سلام وګرځوئ، او که څلور رکعتيز لمونځ وي نو د تشهد نه وروسته د الله اکبر په ويلو سره ودرېږئ او په دواړو رکعتونو کې که فرض لمونځ وي نو يواځې د بسم الله او فاتحې په ويلو سره د قاعدې سره سم رکوع او سجدې وکړئ او که سنت يا نفل وي نو بسم الله، سورة فاتحه او سورة هم ولولئ ليکن د امام پسې به مقتدي بسم الله او فاتحه نه لولي غلی به ولاړ وي، بيا په څلور رکعتونو پوره کولو سره کېنئ او تشهد، درود شريف او دعا ولولئ او سلام وګرځوئ.

| | |
|---|---|
| **درود شريف** | اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰٓى اٰلِ مُحَمَّدٍ |
| | اې الله! رحمت نازل کړه پر حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د هغه په آل/کورنۍ باندې، |
| كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰٓى اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلٰٓى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ | |
| څنګه دې چې رحمت نازل کړی پر ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ او په آل/کورنۍ د هغه باندې، بېشکه ته ستايل شوی او د لوی شان | |
| مَّجِيْدٌ۔ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰٓى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا | |
| څښتن يې. اې الله! برکت نازل کړه پر حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او په آل د حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې | |

| | |
|---|---|
| بَارَكْتَ عَلٰٓى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰٓى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۔ | |
| څنګه دې چې برکت نازل کړی و پر ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ او په آل د هغه باندې، بېشکه ته ستايل شوی او د لوی شان څښتن يې. | |
| رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ ۖ رَبَّنَا | دعا |
| اې زما پالونکيه! ما د لمونځ پابند وګرځوه او زما اولاد هم، اې زمونږ پالونکيه! | |
| وَ تَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَ لِوَالِدَيَّ وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ | |
| زما دعا قبوله کړه، اې زمونږ پالونکيه! ماته، زما مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته ښښنه وکړه | |
| يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ﴿٤١﴾ (ابراهيم: ٤٠-٤١) | |
| په هغه ورځ چې (د عملونو) حساب پکې کيږي. | |

بيا د لمونځ د پای ته رسولو لپاره لومړی ښي او بيا کيڼ لوري ته په مخ اړولو سره سلام وکړئ.

| | |
|---|---|
| اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَةُ اللّٰهِ ؕ | سلام |
| په تاسو دې سلامتيا او د خدای رحمت وي. | |
| اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ لَا | آية الكرسی |
| الله (هغه ذات دی چې) له هغه پرته هيڅ معبود نشته ژوندی دی (د دنيا د نظام) قائم ساتونکی دی، نه په | |
| تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّ لَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ | |
| هغه پرکالي راځي او نه خوب، د هغه لپاره دي څه چې په اسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي، | |
| مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ | |
| څوک دی چې د هغه له اجازې پرته د هغه په وړاندې (د کوم چا) سفارښت وکړي، هغه شيان چې د مخلوقاتو | |
| اَيْدِيْهِمْ وَ مَا خَلْفَهُمْ ۚ وَ لَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ | |
| په وړاندې دي او کوم څه چې د دوی نه وروسته (کېدونکي) دي په ټولو خبر دی او خلک په معلوماتو د هغه کې احاطه نه شي کولی | |

| | |
|---|---|
| اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ ۚ وَ لَا | |
| مګر څومره چې هغه وغواړي، د هغه کرسۍ په اسمانونو او ځمکو ارته/حاوي ده او د هغو | |
| يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَ هُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۲۵۵﴾ | |
| ساتنه يې نه ستړی کوي او هغه د اوچت شان او لويي څښتن دی. | |
| اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَ نَسْتَغْفِرُكَ وَ نُؤْمِنُ | دعای قنوت |
| اې الله! مونږ له تانه مرسته غواړو او له تانه بښنه غواړو او په تا باندې ايمان لرو | |
| بِكَ وَ نَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَ نُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَ نَشْكُرُكَ وَ لَا | |
| او په تا باندې توکل کوو او ستا ډېره ښه ستاينه کوو، او ستا شکر ادا کوو او ستا ناشکري نه کوو او | |
| نَكْفُرُكَ وَ نَخْلَعُ وَ نَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ | |
| جدا کوو او پرېږدو هغه کس چې ستا سرغړونه وکړي اې الله! مونږ ستا بندګي کوو | |
| وَ لَكَ نُصَلِّيْ وَ نَسْجُدُ وَ اِلَيْكَ نَسْعٰى وَ نَحْفِدُ وَ نَرْجُوْا | |
| او ستا لپاره لمونځ کوو او سجده کووا و ستا په لوري درځغلو، او تاته عاجزي کوو او ستا | |
| رَحْمَتَكَ وَ نَخْشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ط | |
| د رحمت هيله لرو او ستا له عذاب څخه وېرېږو ببشکه ستا عذاب کافرانو ته رسېدونکی دی. | |

## د جنازې لمونځ

**د لمونځ طريقه:** لومړی په نيت کولو سره امام او مقتدي تر غوږو پورې لاسونه پورته کړئ او د الله اکبر په ويلو سره يې د نامه لاندې وتړئ او ثناء ووايئ د وَتَعَالٰى جَدُّكَ نه وروسته وَجَلَّ ثَنَاءُكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ ولولئ بيا له لاسونو پورته کولو پرته الله اکبر ووايئ او کوم درود شريف چې په لمانځه کې لوستلی کېږي هغه ولولئ بيا له لاسونو پورته کولو پرته تکبير ووايئ او دعا ولولئ، مقتدي تکبير په ورو او امام دې په لوړ غږ ووايي.

| | |
|---|---|
| **دَ بالغ سړي او ښځې دُعا** | اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَ مَيِّتِنَا<br>الهي ببښنه وکړه زمونږ ژونديو ته او زمونږ مړو ته |
| وَ شَاهِدِنَا وَ غَآئِبِنَا وَ صَغِيْرِنَا وَ كَبِيْرِنَا وَ ذَكَرِنَا وَ | |
| او زمونږ هر حاضر او زمونږ هر غائب ته او زمونږ هر کوچني ته او زمونږ هر لوی ته او زمونږ هر نارينه ته | |
| اُنْثَانَا ط اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ ص عَلَى الْاِسْلَامِ ط | |
| او زمونږ هرې ښځينه ته الهي ته چې له مونږ نه څوک ژوندی ساتې نو هغه په اسلام باندې ژوندی وساته، | |
| وَ مَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ | |
| او په مونږ کې چې چا ته مرګ راولې نو په ايمان باندې مرګ ورکړه. | |
| **د نابالغ هلک دُعا** | اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّ اجْعَلْهُ لَنَآ<br>الهي دا (هلک) زمونږ لپاره مخکې لېږلی شوی انتظام کونکی وګرځوه او هغه زمونږ |
| اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّ اجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّ مُشَفَّعًا | |
| لپاره (موجب د) اجر او ذخيره (د کار په وخت کې په کار راتلونکی) وګرځوه او هغه زمونږ لپاره سپارښت کونکی وګرځوه او د چا چې سپارښت قبليږي. | |
| **د نابالغې انجلۍ دعا** | اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا<br>اې الله! دا (انجلۍ) زمونږ لپاره مخکې لېږلی شوې انتظام کونکې وګرځوه، |
| وَّ اجْعَلْهَا لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّ اجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً ط | |
| او هغه زمونږ لپاره (موجب د) اجر او ذخيره (د کار په وخت کې په کار راتلونکې) وګرځوه او هغه زمونږ لپاره سپارښت کونکې وګرځوه او د چا چې سپارښت قبليږي. | |

❀❀❀❀❀

## الله تعالی قرآن کریم ولې نازل کړی دی؟
## الله تعالی د دې په اړه څه فرمایي؟ راځئ پوهه شئ ! !

**اَلذِّكْرُ:** (نصیحت، یادونه)

"دا ډېر لوی برکتناک کتاب دی،(اې نبي) کوم چې مونږ تاته نازل کړی دیددې لپاره چې دا خلک ددې په ایاتونو غور وکړي (او د حکمت او عقل خاوندان ترې نصیحت واخلي)". (ص: ۲۹)

**اَلْفُرْقَانَ:** (د حق او باطل په مینځ کې توپیر کونکی)

"ډېر د برکت څښتن دی هغه الله چا چې دا فرقان (د حق او باطل په مینځ کې توپیر کونکی قرآن) په خپل بنده (محمد ﷺ) نازل کړی دی تر څو د دنیا د ټولو خلکو لپاره ویرونکی شي." (الفرقان:۱)

**الْهُدٰی:** (پوره لارښوونه او هدایت)

"حقیقت دا دی چې دا قرآن د هغې لارې ښوونه کوي کومه چې بالکل نېغه/سمه ده کوم خلک چې دا مني نېک کارونه کوي هغوی ته زېری ورکوي چې د هغوی لپاره لوی اجر دی، او بېشکه هغه کسان چې آخرت نه مني هغوی ته خبرتیا ورکوي چې د هغوی لپاره مونږ دردناک عذاب تیار کړی دی." (بنی اسرائیل: ۹ نه تر ۱۰)

**اَلْاَمْثَالَ:** (په تمثیلي انداز کې خبرې ښودل تر څو خلک فکر وکړي)

"دا مثالونه مونږ خلکو ته ددې لپاره بیانوو چې هغوی (په خپل حال باندې) غور وکړي." (الحشر: ۲۱)

**زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا:** (په ایمان کې زیاتوالی کونکی)

"ریښتوني د ایمان خاوندان هغه خلک دي د کومو خلکو زړونه چې د الله په ذکر (قرآن) اوربدلو سره لړزیږي/وبرېږي، او کله چې د الله ایاتونه د هغوی په وړاندې لوستل کیږي نو د هغوی ایمانونه زیاتیږي او هغوی په خپل رب باندې توکل او باور کوي." (انفال: ۲)

**اَحۡسَنُ الۡحَدِيۡثِ:** (غوره وينا يا ښايسته خبرې)
"الله تعالی غوره کلام نازل کړی، يو داسې کتاب چې ټول اجزاء يې يو رنګ دي او په کوم کې چې مضامين بيا بيا تکرار شوي دي، د دې په اورېدلو سره د هغو خلکو غونې ځيږ کيږي کوم چې د خپل رب نه ويرېدونکي دي او بيا د هغوی بدنونه او زړونه نرم او د الله تعالی د ياد په لوري متوجه شي." (الزمر: ۲۳)
**يَسۡـَٔلُوۡنَكَ:** (له تانه پوښتنه کوي يا سوال کوي)
"او پوښتنه کوي (چې د الله په لاره کې) څه مصرف کړي؟ ورته ووايه: څه چې ستاسو له اړتيا نه زيات دي (هغه مصرف کړئ) همداسې الله تعالی ستاسو لپاره ښکاره حکمونه بيانوي، ښايي چې تاسو (د دنيا او آخرت دواړو) فکر وکړئ." (البقره: ۲۱۹)
**ذِكۡرُكُمۡ:** (په دې کې د انسان يادونه ده، د قرآن موضوع انسان دی)
"خلکو! مونږ تاسو ته داسې کتاب درلېږلی په کوم کې چې ستاسو يادونه ده، ايا تاسو د عقل نه کار نه اخلئ؟" (انبياء: ۱۰)
**يَسَّرۡنَا الۡقُرۡاٰنَ لِلذِّكۡرِ:** (د نصيحت اخيستلو لپاره قرآن بيخي اسانه دی)
"او له شک پرته مونږ دا قرآن د نصيحت اخيستلو لپاره اسانه وسيله ګرځولې ده، نو ايا څوک نصيحت قبلونکی شته؟" (قمر: ۱۷، ۲۲، ۳۲، ۴۰)
**اَحۡسَنَ تَفۡسِيۡرًا:** (په غوره انداز کې خپلې خبرې سپړونکی کتاب. غوره تفسير)
"او منکرين وايي چې په دې کس باندې ټول قرآن په يو وار ولې نازل نه شو؟ هو دا کار مونږ په دې خاطر کړی دی چې دا په ښه ډول ستا په ذهن کې کيني، او د همدې لپاره مونږ دې ته په يو خاص ترتيب سره د جدا جدا اجزاو شکل ورکړ او په دې کې دا مصلحت هم دی چې کله هم هغوی ستاسو په وړاندې څه حيرانوکي خبره يا نااشنا پوښتنه راوړي نو د هغوی سم ځواب مونږ په وخت باندې تا ته درکړی او په حق سره ډېر ښه تفسير بيان." (الفرقان: ۳۱ نه تر ۳۳)
**اُتۡلُ مَآ اُوۡحِيَ اِلَيۡكَ:** (ولوله! هغه چې ستا لوري ته وحي کيږي)

”او (اې نبي) ستا د رب له کتاب نه چې د کوم څه تا ته وحي شوې ده د هغه (الله) د کلماتو بدلونکی نشته، او ته به له هغه (رب) نه پرته هیڅ کوم د پناه ځای ونه مومې.“ (الکهف:۲۷)

”(هغوی ته ووایه) دا یو ډېر لوی خبر دی، د کوم په اورېدلو سره چې تاسو مخونه اړوئ.“ (ص:۶۸،۶۷)

## هغه کسان چې په قرآن کې غور او فکر نه کوي الله ترې خفه دی

”ووایه! هغه الله دی چې تاسو یې پیدا کړي یئ، تاسو ته یې د لیدلو او اورېدلو قوت درکړی او د فکر کولو او پوهېدلو والا زړه یې درکړی مګر تاسو لږ شکر ادا کوئ.“ (الملک:۲۳)

”ایا هغه خلک په قرآن کې غور او فکر نه کوي، یا که د هغوی زړونه تړلي دي.“ (محمد:۲۴)

## د الله تعالی د ایاتونو پټونکو به ډېر بد انجام وي

”هغه کسان چې زمونږ نازل شوې ښکاره تعلیمات او لارښوونې پټوي، که څه هم مونږ هغه د ټولو انسانانو د لارښوونې لپاره په خپل کتاب کې بیان کړې دي بېشکه چې الله تعالی پر هغوی لعنت کوي او ټول لعنت کوونکي هم پر هغوی لعنت وایي البته کوم کسان چې له دې (ناوړه کار) څخه بېرته راوګرځي او د خپلو کړنو اصلاح وکړي او څه یې چې پټول هغه بیان کړي، هغوی ته زه بښنه کوم، او زه ښه توبه قبلونکی او ډېر رحم کونکی یم.“ (البقره: ۱۵۹ نه تر ۱۶۰)

## د قرآن په څېر د باارزښته نعمت په اړه به د ځواب غوښتنه کیږي

”او حقیقت دا دی چې دا کتاب ستا لپاره او ستا د قوم لپاره یوه نصیحت نامه/پند دی او زر ده چې له تاسو به پوښتنه وشي.“ (الزمر:۴۴)

”او ټول د الله رسۍ کلکه ونیسئ او تفرقه مه اچوئ.“
”داسې نه چې تاسو د هغو کسانو په څېر شئ چې په فرقو وویشل شول وروسته له هغې چې ښکاره او واضحې لارښوونې ورته راغلې وې او چا چې دا طریقه اختیار کړه د هغوی لپاره لوی عذاب دی.“ (آل عمران: ۱۰۳،۱۰۴)

**او رسول الله صلی الله علیه وسلم به وفرمایي: ”چې اې زما ربه ! زما د امت خلکو دا قرآن پرې ایښی و“ (الفرقان: ۳۰)**

الله تعالی دې مونږ ټولو ته په قرآنې احکامو د پوهېدلو ، په دې باندې د عمل کولو او نورو ته د رسولو توفیق را په برخه کړي.

## د سورة الحج د ۷۸ آیت په رڼا کې څو مهم ټکي

**ژباړه:** ”او د الله په لار کې داسې جهاد وکړئ څنګه چې د جهاد حق دی. هغه تاسو غوره کړي یئ او په تاسو باندې یې د دین اړوند څه محدودیت نه دی وضع کړی، د خپل پلار ابراهیم عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ دین قائم وساتئ . هغه الله تاسو مسلمان نومولي یئ له دې قرآن نه مخکې هم او په دې کې هم تر څو پیغمبر په تاسو شاهد واوسي او تاسو په ټولو خلکو شاهدې کوونکي جوړ شئ نو باید تاسو لمونځونه قائم کړئ او زکوة ادا کړئ او د الله (رسۍ) کلکه ونیسئ هم هغه ستاسو دوست او مالک دی، نو څومره ښه مالک او غوره مرستندوی دی.“

یعنې یواځې د الله د رضامنتیا لپاره جهاد وکړئ هغه که د مشرکینو په خلاف وي او که د نفس اماره په خلاف وي، همدا راز فرمایلي یې دي: په دین کې هیڅ سختي نشته، د اسلام دین ډېر اسانه دی او په دې کې سختیا نشته، ایا په دې دور کې هم دین او په دین باندې عمل کول اسانه دي؟ د خپلو علماو نه وضاحت وغواړئ !

دا ملت ابراهیمي ملت دی او دا دین ابراهیمي دین دی د دې وضاحت د خپلو علماو نه هرو مرو معلوم کړئ !

الله تعالی د ابراهیمي دعا په برکت سره زمونږ نوم مسلمان ایښی دی کوم چې الله تعالی ته ډېر خوښ دی، الله تعالی د خپلو منونکو لپاره تل مسلمان نوم خوښ کړی دی، حضرت ابراهیم عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ هم وفرمایل: انا اول المسلمین، ، همد راز نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ هم وفرمایل: "انا اول المسلمین" بلکې ټولو انبیاء کرامو د الله تعالی داورکړل شوی غوره نوم "مسلمان" د خپلو ځانونو لپاره خوښ کړ او مونږ ځانته د مسلمان ویلو او مسلمان جوړېدلو پرځای په ډول ډول فرقو او ډلو سر یو ایا مونږ دا نوم (مسلمان) نه خوښوو؟ د خپلو علماو نه پوښتنه وکړئ!

## سوره انعام: ۱۶۲

"ته ووایه! بېشکه زما لمونځ او زما قربانۍ او زما ژوند او زما مرګ (ټول) د الله لپاره دي کوم چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، د هغه هیڅ شریک نشته او ماته همدا حکم شوی دی، او زه لومړی مسلمان یم."

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ژوند څخه
## د سورة الاحزاب ۲۱ آیت په رڼا کې لارښوونې ته بلنه

"بېشکه ستاسو لپاره په رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ کې غوره نمونه (موجوده) ده د هر هغه کس لپاره ځوک چې د الله تعالی او د قیامت د ورځې تمه لري او الله تعالی ډېر یادوي."

د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ سیرت زمونږ لپاره غوره نمونه ده، یعنې کوم کار چې هغه کړی همداسې یې مونږ هم باید وکړو او ددې پرځای چې مونږ د کوم بل چا پیروي وکړو باید د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ په سنتو عمل وکړو، په دې هدف کې د بریالیتوب لپاره مونږ باید د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ د ټولو کړو وړو په اړه تفصیلي معلومات ولرو د مثال په توګه:

د هغه صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ کورنی ژوند څه ډول و؟

د هغه مبارک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سود اګریزي چارې څه ډول وې؟

هغه مبارک څومره نکاح ګانې کړې؟

هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ولیمې په اړه څه حکم کړی؟

ایا هغه مبارک په ولیمه کې د پیسو (سوغات) اخیستلو امر کړی و څنګه چې په مونږ کې دستور دی؟ هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو مېرمنو ته مهر څومره څومره ور کړی؟ حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حضرت ام کلثوم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته او حضرت رقیه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته څومره مهرونه ورکړي او رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو لوڼو ته څومره جهیز/ سازسامان ورکړی و او حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او عمرفاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپلو لوڼو ته څومره جهیز ورکړی و؟

څه ډول چې په مونږ کې د ښادیو/ودونو طریقې رسمونه او رواجونه دي ایا د رسول پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صحابه کرامو په زمانه کې هم داسې څه و او که نه؟ که نه و او البته چې نه و نو مونږ په کومه خوا روان یو؟ فکر وکړئ!

د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه وروسته د ازواج مطهراتو کړه وړه څه ډول و؟ د پېغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مېرمنو د عدت ورځې څه ډول تېرې کړې؟ نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څومره عمرې ادا کړې وې؟ د هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عبادات څه ډول و؟ وغیره وغیره.

خپل ژوند د اسوه حسنه په رڼا کې د جوړولو لپاره ددې ټولو پوښتنو تفصیلي ځوابونه د خپلو علماو نه وپوښتئ!

(په یاد وساتئ!) د الله او د هغه د رسول نه مه مخکې کېږئ (الحجرات:۱)

وہ معزز تھے زمانے میں مسلماں ہوکر

اورتم خوار ہوئے تارک قراں ہوکر

**ژباړه:** هغوی عزتمند و په زمانه کې په مسلمانېدو سره او تاسو د قرآن په پرېښودلو سره خوار و زار شوئ.

## بېشکه قرآن د عقل د خاوندانو لپاره نصيحت/پند دی

”او داسې هيڅوک نشته چې هغه د الهي حکم نه پرته ايمان راوړلی شي، او (الهي سنت دا دی چې) هغه (د ګمراهۍ) پليتي په هغو کسانو باندې اچوي چې له عقل څخه کار نه اخلي.“ (يونس: ۱۰۰)

”او مونږ نه دی لېږلی هيڅ رسول مګر د خپل قوم په ژبه ددې لپاره چې هغوی ته ښکاره بيان کړي (الهي احکامات) نو بې لارې کوي الله پاک چاته چې وغواړي او هدايت کوي چاته چې وغواړي او هغه په ټولو زورور او د حکمت څښتن دی.“ (ابراهيم:۴)

”بېشکه دا قرآن هغه لاره ښايي کومه چې له ټولو لارو نه نېغه/برابره ده او زېرې ورکوي هغو مؤمنانو ته کوم چې نېک عمل کوي چې بېشکه د هغوی لپاره لوی اجر دی، او بېشکه هغه کسان چې په اخيرت ايمان نه راوړي مونږ د هغوی لپاره دردونکی عذاب چمتو کړی.“ (اسراء: ۹)

”بېشکه مونږ تاسو ته نازل کړی دی يو کتاب په کوم چې ستاسو لپاره نصيحت/ پند دی ايا تاسو (دومره هم) نه پوهېږئ.“ (انبياء:۱۰)

”دا کتاب کوم چې مونږ نازل کړی دی تاته، ډېر برکتناک دی ددې لپاره چې هغوی غور وکړي ددې په اياتونو کې او ددې لپاره چې پند واخلي د عقل خاوندان.“ (ص:۲۹)

”الله تعالی نازل کړی دی ډېر ښه کلام يعنې هغه کتاب چې اياتونه يې يو رنګ دي بيا بيا تکرارېږي او ځېرېږي په (لوستلو د) دې سره څرمنې/بدنونه د هغو کسانو چې د خپل رب څخه وېرېږي او بيا پاسته شي (ارام نيسي) بدنونه او زړونه د هغوی د الله د ياد لوري ته، دا د الله تعالی هدايت دی لارښوونه کوي په دې سره چاته چې وغواړي او الله تعالی چې چالره بې لارې کړي نو د هغه لپاره هيڅوک هدايت کونکی نشته.“ (زمر:۲۳)

# د تعليم الاسلام لومړۍ برخه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ
نَحۡمَدُهٗ وَنُصَلِّيۡ عَلٰى رَسُوۡلِهِ الۡكَرِيۡمِ ط

پوښتنه: ته څوک يې (يعنې د مذهب له لحاظه ستا څه نوم دی)؟

ځواب: مسلمان.

پوښتنه: د مسلمانانو د مذهب (دين) نوم څه دی، يا ستا د مذهب نوم څه دی؟

ځواب: اسلام.

پوښتنه: اسلام څه ښوونه کوي يا اسلام کوم مذهب ته وايي؟

ځواب: اسلام ددې ښوونه کوي چې ،،خدای يو دی،، دبندګي وړ هغه دی او حضرت محمد ﷺ د الله تعالی بنده او رسول دی او قرآن کريم د الله تعالی کتاب دی، اسلام ريښتينی دين دی، د دنيا او آخرت ټولې ښېګڼې او نېکې خبرې اسلام ښايي.

پوښتنه: د اسلام کلمه کومه ده؟

ځواب: د اسلام کلمه دا ده:

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰهِ

**ژباړه:** ”له الله پرته بل د عبادت وړ (معبود) نشته محمد ﷺ د الله تعالی رسول دی.“

پوښتنه: د شهادت کلمه کومه ده؟

ځواب: د شهادت کلمه دا ده:

اَشۡهَدُ اَنۡ لَّاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ

**ژباړه:** ”زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل د عبادت وړ نشته هغه يو دی سيال نه لري او زه شاهدي ورکوم چې حضرت محمد ﷺ د الله

تعالی بنده او رسول دی."

پوښتنه: ایمان مجمل کوم دی ؟

ځواب: ایمان مجمل دا دی:

**اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَآئِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ**

**ژباړه:** "ما ایمان راوړی پر الله لکه څنګه چې دی او د هغه په نومونو او صفتونو مې ایمان راوړی او ټول حکمونه مې منلي دي."

پوښتنه: ایمان مفصل کوم دی؟

ځواب: ایمان مفصل دا دی:

**اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَ مَلٰٓئِكَتِهٖ، وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِه، وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ، وَ شَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ**

**ژباړه:** "ایمان مې راوړی پر الله باندې، پر ملائکو یې، پر کتابونو یې، په رسولانو یې او د قیامت په ورځې او په دې چې د ښه او بد تقدیر د الله تعالی له لوري دی او له مرګ وروسته پر ژوندي کېدو باندې."

پوښتنه: تاسو چا پیدا کړي یاست؟

ځواب: مونږ، زمونږ مور او پلار، اسمانونه، ځمکې او ټول مخلوق الله تعالی پیدا کړي.

پوښتنه: الله تعالی دنیا له څه شي نه پیدا کړه؟

ځواب: په خپل قدرت او حکم سره یې پیدا کړې ده.

پوښتنه: کوم خلک چې الله تعالی نه مني هغوی ته څه وایي:

ځواب: هغوی ته کافران وایي.

پوښتنه: کوم خلک چې له الله تعالی پرته د نورو شیانو عبادت کوي او یا دوه دری خدایان مني هغوی ته څه وایي؟

ځواب: داسې خلکو ته مشرکان او کافران وايي.

پوښتنه: مشرک بښل کیږي او که نه؟

ځواب: مشرک نه بښل کیږي هغه به تل په ځور او عذاب کې وي.

پوښتنه: حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څوک و؟

ځواب: حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالی بنده او رسول و، مونږ یې امتیان یو.

پوښتنه: زمونږ پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چېرته زیږیدلی و؟

ځواب: د عربو په وطن کې د مکې معظمې یو ښار دی هلته زیږیدلی و.

پوښتنه: پلار او نیکه یې څه نومېدل؟

ځواب: پلار یې عبد الله او نیکه یې عبد المطلب نومېده.

پوښتنه: زمونږ پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مرتبه کې له نورو پېغمبرانو پورته او که ښکته دی؟

ځواب: زمونږ پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مرتبه کې تر ټولو پېغمبرانو پورته او د الله پاک له ټول مخلوق لوړ دی.

پوښتنه: حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوند چېرته تېر کړی و؟

ځواب: درې پنځوس (۵۳) کاله یې خپل ښار (مکه معظمه) کې تېر کړل او بیا د الله پاک له امر سره سم مدینې منورې ته مهاجر شو، لس (۱۰) کاله یې هلته تېر کړل او په درې شپېته (۶۳) کلنۍ کې وفات شو.

پوښتنه: که څوک حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مني هغه څنګه دی؟

ځواب: څوک چې حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالی رسول نه بولي هغه هم کافر دی.

پوښتنه: د حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د منلو مطلب څه دی؟

ځواب: د حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د منلو مطلب دا دی چې سړی په دې باور

ولري چې هغه ﷺ د خدای پاک رالېږلی استازی دی او دا عقیده ولري چې له الله تعالی وروسته تر ټول مخلوق غوره دی او له ده سره مینه ولري او په سنتو یې عمل وکړي.

پوښتنه: دا څه معلومه شوه چې محمد ﷺ د الله پاک پېغمبر دی؟

ځواب: داسې ښه کارونه یې وکړل او داسې ویناوې یې خلکو ته وکړې چې له پېغمبر پرته یې بل څوک نه ښوولای او نه هم کولای شي.

پوښتنه: دا څه معلومه شوه چې قرآن کریم د الله تعالی کتاب دی؟

ځواب: حضرت محمد ﷺ فرمایي قرآن کریم د الله تعالی کتاب دی او پر ما یې نازل کړی.

پوښتنه: قرآن کریم پر پېغمبر ﷺ په یو وار او که لږ لږ نازل شوی؟

ځواب: هو لږ لږ نازل شوی، کله یو آیت، کله دوه، کله څلور آیاتونه او کله هم بشپړ سورت، څومره به چې ورته اړتیا وه هغومره به نازلېدل.

پوښتنه: په څومره وخت کې ټول قرآن کریم نازل شو؟

ځواب: په درویشت (۲۳) کاله کې.

پوښتنه: قرآن کریم څه ډول نازلېده؟

ځواب: حضرت جبرائیل علیه السلام به راغی پېغمبر ﷺ ته به یې آیت یا سورة تېراوه، ده ﷺ به اورېده، یاداوه به یې، بیا به یې لیکونکی راوغوښت پر هغه به یې ولیکه.

پوښتنه: پېغمبر ﷺ پخپله ولې نه لیکه؟

ځواب: ځکه چې دی مبارک اُمي و.

پوښتنه: اُمي چا ته وایي؟

ځواب: د چا چې لیک لوست زده نه وي هغه ته اُمي وایي، که څه هم پېغمبر

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دنیا کې له چا علم زده کړی نه و، خوبیا هم خدای تعالی تر ټول مخلوق زیات علم ورکړی و.

پوښتنه: حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ څوک دی؟

ځواب: ملائکه ده، پیغمبرانو ته به یې د الله تعالی حکمونه راوړل.

پوښتنه: مسلمان د الله تعالی بندګي څنګه کوي؟

ځواب: لمونځ کوي، روژه نیسي، زکات ورکوي، حج کوي.

پوښتنه: لمونځ څه ته وایي؟

ځواب: لمونځ د الله تعالی د عبادت او بندګۍ ځانګړې طریقه ده چې الله تعالی په قرآن کریم او رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپلو لارښوونو، حدیثونو، کې مسلمانانو ته ښوولې ده.

پوښتنه: د بندګۍ هغه ځانګړې طریقه څه ډول ده چې لمونځ ورته وایي؟

ځواب: په کور یا جومات کې خلک د الله تعالی په مخکې لاس په نامه دریږي، قرآن شریف لولي، د الله تعالی ستاینه کوي، د هغه لويي او تعظیم بیانوي او هغه ته ټیټیږي، سر په ځمکه ږدي، د هغه لويي او خپله عاجزي ښکاروي.

پوښتنه: لمونځ کونکی خدای پاک په جومات او که په کور کې ښهويني؟

ځواب: الله تعالی یې هر ځایويني، جومات او که کور کې وي، خو په جومات کې لمونځ ډېر ثواب لري.

پوښتنه: له لمانځه د مخه خلک مخ، لاسونه او پښې وينځي هغه ته څه وایي؟

ځواب: هغه ته اودس وایي له اوداسه پرته لمونځ نه کیږي.

پوښتنه: په لمانځه کې کوم لور ته مخ کول پکار دي؟

ځواب: لويځ لور ته.

پوښتنه: مونږ ولې په لمانځه کې د لویدیځ لور ته دریږو؟

ځواب: د مکې معظمې په ښار کې د الله تعالی کور دی چې کعبه يې بولي، په لمونځ کې هغه لور ته مخ ګرځول ضروري دي دا چې کعبه زمونږ د ښار (کابل، پېښور، کويټه،او کندهار) لويځ لور ته ده ځکه خو خلک دلته د لوېديځ لور ته لمونځ کوي.

پوښتنه: کوم لور ته چې خلک لمونځ کوي هغه ته څه وايي؟

ځواب: قبله ورته وايي.

پوښتنه: په شپه او ورځ کې څو واره لمونځ کيږي؟

ځواب: په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ فرض دی.

پوښتنه: هغه پنځه وختونه کوم دي؟

ځواب: لومړی د سهار (فجر) لمونځ چې سهار له لمر ختو دمخه کيږي، دويم د ماسپښين (ظهر) لمونځ چې د زوال (د سيوري له ماتېدو) وروسته کيږي، دريم د مازديګر (عصر) لمونځ چې له لمر لوېدو يو نيم يا دوه ساعته دمخه کيږي، څلورم د ماښام (مغرب) لمونځ چې تر لمر لوېدو وروسته کيږي، پنځم د ماخستن (عشاء) لمونځ چې له لمر لوېدو يو نيم يا دوه ساعته وروسته کيږي.

پوښتنه: تکبير(اقامت) څه ته وايي؟

ځواب: لمونځ ته د درېدلو نه لږ دمخه يو کس د آذان توري وايي همدې ته اقامت او تکبير وايي خو په اقامت کې له "حی علی الفلاح" وروسته "قد قامت الصّلوة" دوه ځله د آذان له تورو زيات ويل کيږي.

پوښتنه: څوک چې آذان يا تکبير وايي هغه ته څه وايي؟

ځواب: آذان کونکي ته مؤذن او څوک چې تکبير وايي هغه ته مُکَبِّرْ وايي.

پوښتنه: په ګډه چې خلک لمونځ کوي لمونځ ورکونکي، لمونځ کوونکو او هغه لمانځه ته څه وايي؟

ځواب: هغه لمانځه ته د جَمعې لمونځ وايي، لمونځ ورکونکي ته امام او د هغه پسې لمونځ کوونکو ته مقتدیان وايي.

پوښتنه: څوک چې یوائې لمونځ کوي هغه ته څه وايي؟

ځواب: یوائې لمونځ کونکي ته مُنْفَرِدْ وايي.

پوښتنه: داسې ځای چې خاص لمانځه ته جوړ وي او خلک پکې لمونځ کوي څه بلل کیږي؟

ځواب: هغه ته جومات (مسجد ) وايي.

پوښتنه: څوک چې جومات ته لاړ شي هلته باید څه وکړي؟

ځواب: په جومات کې دې لمونځ وکړي، قرآن شریف دې ولولي، یا دې بل ذکر وکړي او یا دې په ادب سره غلی کېني، په جومات کې لوبې کول، ټوپونه وهل، شور او دنیاوي خبرې کول بد کار دی.

پوښتنه: لمونځ څه ګټې لري ؟

ځواب: لمونځ ډېرې ګټې لري، یو څو یې تاسو ته دربښیو:

۱-د لمونځ کونکي انسان بدن او کالي تل پاک وي.

۲-له لمونځ کونکي څخه الله تعالی خوښ وي.

۳-د لمونځ کونکي څخه پیغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم خوښ وي.

۴-لمونځ کونکی د خدای تعالی په نزد نېک وي.

۵-د لمونځ کونکي سړي خلک په دنیا کې هم عزت کوي.

۶-لمونځ کونکی له ډېرو ګناهونو ساتلی وي.

۷-لمونځ کونکي انسان ته الله تعالی له مرګ وروسته آرام ژوند ورکوي.

# ازواج مطهراتو او د مؤمنانو د مېندو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُنَّ د مهر اندازه

## دَ احادیثو او معتبرو کتابو په رڼا کې

| شمار | نوم | د مهر حق | حوالې |
|---|---|---|---|
| 1 | ام المؤمنین حضرت سید خدیجه بنت خویلد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | ۵۰۰درهم سپین زر | صحیح مسلم |
| 2 | ام المؤمنین حضرت سوده بنت زمعه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | ۴۰۰درهم سپین زر | سبل الهدی و الرشاد |
| 3 | ام المؤمنین حضرت سیده عائشه بنت ابی بکرصدیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | ۵۰۰درهم سپین زر | صحیح مسلم |
| 4 | ام المؤمنین حضرت سیده حفصه بنت عمرفاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | ۱۲ اوقیه سره زر یعنې ۵۰۰درهم سپین زر | صحیح مسلم |
| 5 | ام المؤمنین حضرت سلمی بنت ابی امیه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | یوه بستره، د اوبو څښلو یوه وړه پیاله، د خوراک لپاره یوه کاسه،د اوړو میدولو میچنه | المواهب الدینیه شرح زرقانی |
| 6 | ام المؤمنین حضرت سیده ام حبیبه بنت ابی سفیان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | ۴۰۰ دیناره سره زر | سبل الهدی و الرشاد |
| 7 | ام المؤمنین حضرت سیده زینب بنت جحش رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | ۴۰۰ درهم سپین زر | سیرت شامیه |
| 8 | ام المؤمنین حضرت زینب بنت خزیمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | ۴۰۰ درهم سپین زر | المواهب الدینیه (شرح زرقاني) |
| 9 | ام المؤمنین حضرت جویریه بنت حارث رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | ۹ اوقیه سره زر، ۳۰۷ درهم سپین زر | |
| 10 | ام المؤمنین حضرت سیده صفیه بنت حی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | د هغې ازادول | |
| 11 | ام المؤمنین حضرت سیده میمونه بنت حارث رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا | ۵۰۰ درهم سپین زر | |

تحقیق: محمد الیاس ربانی بن مولانا نورحلیم ربانی

# دَ اختر دَ لمونځ طريقه

## اول رکعت:

اَللّٰهُ اَکْبَرْ ← غوږونو پورې لاسونه اوچتول

امام او مقتدي دواړه دې ووايي

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ

امام او مقتدي دواړه دې ووايي:

اَللّٰهُ اَکْبَرْ ← غوږونو پورې لاسونه اوچت کړئ پرېږدئ

اَللّٰهُ اَکْبَرْ ← غوږونو پورې لاسونه اوچت کړئ پرېږدئ

اَللّٰهُ اَکْبَرْ ← غوږونو پورې لاسونه اوچت کړئ نيت وتړئ

امام صاحب به په اوچت آواز سورت فاتحه ورسره يو سورت تلاوت کړي مقتدي به خاموش ولاړ وي

## دویم رکعت:

امام صاحب به په اوچت آواز سورت فاتحه ورسره يو سورت تلاوت کړي مقتدي به خاموش ولاړ وي

امام او مقتدي دواړه دې ووايي:

اَللّٰهُ اَکْبَرْ: ← غوږونو پورې لاسونه اوچت کړئ پرېږدئ

اَللّٰهُ اَکْبَرْ: ← غوږونو پورې لاسونه اوچت کړئ پرېږدئ

اَللّٰهُ اَکْبَرْ: ← غوږونو پورې لاسونه اوچت کړئ پرېږدئ

اَللّٰهُ اَکْبَرْ: ← بغير لاسونو اوچتولو نه رکوع ته لاړ شئ

دَ معمول مطابق التحيات، درود شريف او دعاء ماثوره ووايئ

# د ټول قرآن کريم لنډ تفسير تاسو يې په ژوند کې يو ځل خامخا ولولئ

| | | |
|---|---|---|
| ① د خبرو اترو په ترخ کې بې ادبي مه کوئ ! | ② خپله غوسه قابو کړئ. (آل عمران:۱۳۴) | ③ له نورو سره نېکي وکړئ. (القصص:۷۷) |
| ④ لويي مه کوئ. (النحل:۲۳) | ⑤ د نورو تېروتنې وبښئ. (النور:۲۲) | ⑥ د خلکو سره ورو (په مينه) خبرې کوئ (لقمان:۱۹) |
| ⑦ خپل غږ ټيټ وساتئ. (لقمان:۱۹) | ⑧ په نورو مسخرې مه کوئ (الحجرات:۱۱) | ⑨ د معاملې حساب وليکئ. (البقره:۲۸۲) |
| ⑩ د مور او پلار خدمت کوئ (الاسراء:۲۳) | ⑪ د مور او پلار په مخکې اف هم مه کوئ. (الاسراء:۲۳) | ⑫ د مور او پلار له اجازې پرته د هغوی کوټې ته مه ننوځئ. (النور:۵۸) |
| ⑬ او د ړندو پيروي مه کوئ. (الاسراء:۳۶) | ⑭ که پوروړی په سخت حالت کې وي نو د پور د ادا کولو لپاره نور وخت ورکړئ. (البقره:۲۸۰) | ⑮ سود مه خورئ. (البقره:۲۸۲) |
| ⑯ رشوت مه اخلئ. (المائده:۴۲) | ⑰ ژمنه مه ماتوئ. (الرعد:۲۰) | ⑱ په نورو باندې باور کوئ. (الحجرات:۱۲) |
| ⑲ له رښتياو سره دروغ مه يو ځای کوئ. (البقره:۴۲) | ⑳ د خلکو په مينځ کې انصاف قائم کړئ. (ص:۲۲) | ㉑ د انصاف لپاره په کلکه ودرېږئ. (النساء:۱۳۵) |
| ㉒ مېړمنې هم په ميراث کې برخه لري. (النساء:۷) | ㉓ د يتيمانو جائداد/مال مه قبضه کوئ. (النساء:۲) | ㉔ د يتيمانو ساتنه وکړئ. (النساء:۱۲۷) |
| ㉕ دنورو خلکو مال له اړتيا پرته مه لګوئ. (النساء:۲) | ㉖ د خلکو په مينځ کې روغه وکړئ. (الحجرات:۱۰) | ㉗ د بدګمانۍ نه ځان وساتئ. (الحجرات:۱۲) |
| ㉘ غيبت مه کوئ. (الحجرات:۱۲) | ㉙ جاسوسي مه کوئ. (الحجرات:۱۲) | ㉚ خيرات کوئ. (البقره:۲۷۱) |
| ㉛ په غريبانو باندې خوراک کوئ. (المدثر:۴۴) | ㉜ اړمند خلک ولټوئ او مرسته ورسره وکړئ. (البقره:۲۷۳) | ㉝ فضول مال مه لګوئ. (الفرقان:۲۷) |
| ㉞ له خيرات ورکولو وروسته احسان مه باروئ. (البقره:۲۶۲) | ㉟ د مېلمنو درناوی کوئ. (الذاريات:۲۴ او ۲۷) | ㊱ لومړی پخپله نېکي وکړئ او بيا نورو ته د نېکۍ ښوونه وکړئ. (البقره:۴۴) |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۷ په ځمکه کې فساد مه خپروئ. (العنکبوت:۳۶) | ۳۸ خلک له جوماتونو مه بندوئ. (البقره:۱۱۴) | ۳۹ يو اځې د هغو سره وجنګېږئ چې له تاسو سره جګړه کوي. (البقره:۱۹۰) |
| ۴۰ د جګړې پر وخت د جګړې آداب په پام کې ونيسئ. (البقره:۱۹۰) | ۴۱ د جګړې پر وخت شا مه ښکاروئ (تېښته مه اختياروئ) (الانفال:۱۵) | ۴۲ په دين کې سختي نشته. (البقره:۲۵۶) |
| ۴۳ په ټولو پېغمبرانو باندې ايمان راوړئ. (النساء:۱۵۰) | ۴۴ دحيض په ورځو کې کوروالی مه کوئ. (البقره:۱۴او ۱۲) | ۴۵ مېندې دې ماشومانو ته تر دوو کلونو پورې شيدې ورکړي. (البقره:۲۳۳) |
| ۴۶ له زنا څخه ځانونه وساتئ. (الاسراء:۳۲) | ۴۷ د اهليت په اساس حاکمان وټاکئ. (البقره:۲۴۷) | ۴۸ په چا باندې د هغه له وسه زيات بار مه اچوئ. (البقره:۲۸۲) |
| ۴۹ له منافقت څخه ځانونه وساتئ. (البقره:۱۴او ۱۲) | ۵۰ د کائناتو د خلقت او عجائباتو په اړه ژور فکر وکړئ. (آل عمران:۱۹۰) | ۵۱ ښځينه او نارينه به د خپلو اعمالو برابره برخه ومومي. (آل عمران:۱۹۵) |
| ۵۲ د ځينو خپلوانو سره نکاح حرامه ده. (النساء:۲۳) | ۵۳ سړی د کورنۍ مشر دی. (النساء:۳۴) | ۵۴ بخيلي مه کوه. (النساء:۳۷) |
| ۵۵ کينه مه کوئ. (النساء:۵۴) | ۵۶ يو بل مه وژنئ. (النساء:۲۹) | ۵۷ دوکه او د دوکې پلوي مه کوئ. (النساء:۱۳۵) |
| ۵۸ په ګناه او ظلم کې د يو بل سره مرسته مه کوئ. (المائده:۲) | ۵۹ په نېکيو کې له يو بل سره مرسته وکړئ. (المائده:۲) | ۶۰ اکثريت د حق معيار نه دی. (المائده:۱۰۰) |
| ۶۱ په سمه لار روان اوسئ. (الانعام:۱۵۳) | ۶۲ د جرمونو په سزا ورکولو سره يو مثال جوړ کړئ. (المائده:۳۸) | ۶۳ د ګناه او ظلم پر وړاندې مبارزه وکړئ. (الانفال:۳۹) |
| ۶۴ مردار څاروی، وينه او د خنزير غوښه حرامه ده. (المائده:۳) | ۶۵ له شرابو او نورو نشه لرونکو توکو څخه ډډه وکړئ. (المائده:۹۰) | ۶۶ قمار مه کوئ. (المائده:۹۰) |
| ۶۷ لاسوهنه مه کوئ. (الاحزاب:۷۰) | ۶۸ چغلي مه کوئ. (الهمزه:۱) | ۶۹ وخورئ وڅښئ مګر اسراف مه کوئ. (الاعراف:۳۱) |

| | | |
|---|---|---|
| ⑦٠ د لمانځه پرمهال ښې جامې واغوندئ. (الاعراف:۳۱) | ⑦١ څوک چې له تاسو نه د مرستې او ساتنې غوښتنه وکړي نود هغوی ساتنه او مرسته وکړئ. (التوبه:۲) | ⑦٢ د پاکوالي خيال وساتئ. (التوبه: ۱۰۸) |
| ⑦٣ د الله تعالی له رحمت څخه مه ناهيلي کېږئ. (الحجر: ۵۶) | ⑦۴ الله تعالی په ناپوهۍ کې شوي تېروتنه ښښي. (النساء: ۱۷) | ⑦۵ خلک په حکمت او ښې لارښوونې سره د الله لوري ته راوبولئ. (النحل: ۱۲۵) |
| ⑦۶ هيڅوک به د بل چا د ګناهونو پېټی نه پورته کوي. (فاطر: ۱۸) | ⑦٧ د غربت له وېرې خپل بچي مه وژنئ. (النحل:۳۱) | ⑦٨ د هغه څه په اړه بحث مه کوئ چې پرې نه پوهېږئ. (النحل: ۳۶) |
| ⑦٩ د چاپسې غوږ نيونه مه کوئ (جاسوسي مه کوئ). (الحجرات:۱۲) | ⑧٠ له اجازې پرته د نورو خلکو کورونو ته مه ننوځئ. (النور: ۲۷) | ⑧١ الله تعالی د هغه چا ساتنه کوي څوک چې پرې يقين/ايمان لري. (يونس: ۱۰۳) |
| ⑧٢ په ځمکه کې په عاجزۍ سره ګرځه. (الفرقان: ۶۳) | ⑧٣ خپله برخه کار وکړئ، الله د هغه رسول صلی الله عليه وسلم او مؤمنان به ستاسو کار وګوري. (توبه: ۱۰۵) | ⑧۴ د الله تعالی سره هيڅوک مه شريکوه. (الکهف: ۱۱۰) |
| ⑧۵ په همجنس بازي کې مه اخته کېږئ. (النمل: ۵۵) | ⑧۶ د حق (رښتيا) ملاتړ وکړئ او د باطل (دروغو) څخه ځان وساتئ. (توبه: ۱۱۹) | ⑧٧ پر ځمکه په زړورتيا/لويي سره مه ګرځه (الاسراء: ۳۷) |
| ⑧٨ ښځې دې خپل زينت/ښايست نه ښکاره کوي. (النور:۳۱) | ⑧٩ الله تعالی له شرک پرته ټول ګناهونه ښښي. (النساء: ۴۸) | ⑨٠ د الله تعالی له رحمت څخه مه ناهيلي کېږئ. (زمر: ۵۳) |
| ⑨١ بدي په نېکۍ سره ختمه کړئ. (حم سجده: ۳۴) | ⑨٢ پرېکړې په مشوره سره کوئ. (الشوری: ۳۸) | ⑨٣ په تاسو کې ډېر عزتمند هغه څوک دی چې پرهېزګار وي. (الحجرات: ۱۳) |
| ⑨۴ په اسلام کې د دنيا پرېښودل نشته. (الحديد: ۲۷) | ⑨۵ الله تعالی علم درلودونکي مخکې/پورته کړي دي. (المجادلة:۱۱) | ⑨۶ د نامسلمانو سره په مهربانۍ او اخلاقي چلند وکړئ. (الممتحنه: ۸) |

# مسنوني دعاګاني

وَ قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ

او ستا رب فرمايي چې له مانه دعا وغواړئ زه يې قبلوم.

| | |
|---|---|
| کله چې له کوره وځې | بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ<br>د الله په نوم ، ما په الله تعالى توکل کړی |
| کله چې جومات ته ننوځې | اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْٓ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ<br>اې الله ! ماته د خپل رحمت دروازې پرانېزه |
| کله چې له جوماته وځې | اَللّٰهُمَّ اِنِّيْٓ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ<br>اې الله ! زه له تا نه ستا د فضل غوښتونکی یم |
| کله چې له خوبه بیدارشې | اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَحْيَانَا بَعْدَ مَآ<br>ټولې ستاینې الله لره دي چا چې مونږ له مرګ (خوب) نه وروسته ژوندي |

اَمَاتَنَا وَ اِلَيْهِ النُّشُوْرُ ط

(را بیدار) کړو ، او (مونږ به) د هغه لوري ته ورګرځو.

| | |
|---|---|
| کله چې بیت الخلاء ته ننوځې | اَللّٰهُمَّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَآئِثِ<br>اې الله! زه ستا پناه غواړم د خبیثو پیریانو او پیریو نه |
| کله چې بیت الخلاء نه راووځې | اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَذْهَبَ عَنِّي<br>ټولې ستاینې الله لره دي چاچې زما څخه تکلیف |

الۡاَذٰی وَ عَافَانِیۡ

لرې کړو او روغتیا یې را په برخه کړې.

| | |
|---|---|
| **کله چې دَ چا په کور کې خوراک وکړې نو دا به ووایې** | اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡۤ اَطۡعَمَنَا<br>ټول تعریف الله تعالی لره دي چا چې مونږ باندې وخوړله، |

وَ سَقَانَا وَ جَعَلَنَا مِنَ الۡمُسۡلِمِیۡنَ ط

وڅښله او مونږ یې له مسلمانانو څخه وګرځولو

| | |
|---|---|
| **چې دَ چا په کور کې څه وخورې** | اَللّٰهُمَّ اَطۡعِمۡ مَّنۡ اَطۡعَمَنِیۡ وَاسۡقِ<br>اې الله چا چې په ما وخوړه ته پرې وخوره چا چې را باندې وڅکله |

مَنۡ سَقَانِیۡ ط

ته یې پرې وڅکه.

| | |
|---|---|
| **کله چې جامې واغوندې** | اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ کَسَانِیۡ مَاۤ اُوَارِیۡ بِهٖ<br>ټول تعریف الله تعالی لره دي چا چې ما ته لباس واچولو چې په هغې باندې زه خپل |

عَوۡرَتِیۡ وَ اَتَجَمَّلُ بِهٖ فِیۡ حَیَاتِیۡ

ستر (عورت) پټوم او په خپل ژوند کې په دې سره زیب و زینت کوم

| | |
|---|---|
| **کله چې سورلي کوې** | اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ سُبۡحَانَ الَّذِیۡ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا<br>پاکي ده هغه ذات ته چې دغه سپرلي یې راته تابع کړه |

وَ مَا کُنَّا لَهٗ مُقۡرِنِیۡنَ وَ اِنَّاۤ اِلٰی رَبِّنَا لَمُنۡقَلِبُوۡنَ ط

کنه زمونږ دغه وس نه و او مونږ د خپل رب لور ته ورتلونکي یو.

| | |
|---|---|
| دَ قدر او براءت په شپه يې ولولئ | اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ<br>اې الله !بېشکه ته بښونکی یې او بښنه خوښوې، |
| | عَنِّيْ يَا غَفُوْرُ ط<br>نو ما وبښه اې بښونکيه ! |
| کله چې هديرې ته لاړشې | اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَآ اَهْلَ<br>اې د قبرونو خاوندانو ! پر تاسو دې سلامتيا وي |
| | الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ ط<br>الله تعالی دې مونږ او تاسو ته بښنه وکړي ، تاسو مخکې تللي ياست او مونږ درپسې وروسته درتلونکي يو . |
| کله چې هيندار کې ګورې | اَللّٰهُمَّ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَحَسِّنْ خُلُقِيْ<br>اې الله !لکه څنګه دې چې په ښه ډول پيدا کړی يم هغسې مې اخلاق هم غوره کړه . |
| کله چې مياشت/ سپوږمۍ ووينې | اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهٗ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْاِيْمَانِ<br>اې الله ! دغه سپوږمۍ پر مونږ باندې د برکت، |
| | وَالسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ وَالتَّوْفِيْقِ لِمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى رَبِّيْ<br>اسلام، سلامتيا او ستا د خوښې د عملونو له توفيق سره يو ځای راو خېژوه سپوږمۍ! |
| | وَرَبُّكَ اللّٰهُ ط<br>زما او ستا خدای يو اځې الله دی |
| کله چې څه مصيبت سره مخ شې | اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ط اَللّٰهُمَّ<br>بېشکه مونږ د الله يو او هغه ته ورګرځېدونکي يو ، اې الله ! |

| | |
|---|---|
| عِنْدَكَ اَحْتَسِبُ مُصِيْبَتِيْ فَاْجُرْنِيْ فِيْهَا وَ اَبْدِلْنِيْ مِنْهَا خَيْرًا | |
| زه په خپل دې مصيبت کې له تانه د ثواب اميد لرم، نو ماته ددې اجر راکړه او ددې غوره بدله راکړه. | |
| اَللّٰهُمَّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ | کله چې قرض او اندېښنه وي |
| اې الله! زه له فکر او غم نه ستا پناه غواړم، | |
| وَالْحُزْنِ وَ اَعُوْذُبِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَ قَهْرِ الرِّجَالِ ط | |
| او د قرض زياتواليد قرض/پور او د خلکو د غوسې نه هم ستا پناه غواړم | |
| لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ | دَ ناروغ دَ پوښتنې لپاره |
| مه خفه کېږه که خدای کول دا ناروغي به د ګناهونو کفاره درته وګرځي. | |
| اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ | چې مسلمان مسکې وګوري |
| الله تعالی دې مسکی لره. | |

❀❀❀❀❀❀

# اہل بیت اطہار خاتم النبیین حضرت محمد صلی اللہ علیہ وسلم

## ازواج مطہرات امہات المؤمنینؓ

سیدہ خدیجۃ الکبریٰؓ بنت خویلد، سیدہ ام حبیبہؓ بنت ابی سفیانؓ، سیدہ عائشہ صدیقہؓ بنت ابو بکر صدیقؓ
سیدہ میمونہؓ بنت حارث، سیدہ صفیہؓ بنت حیی، سیدہ جویریہؓ بنت حارث، سیدہ سودہؓ بنت زمعہ
سیدہ ام سلمہؓ بنت سہیل، سیدہ زینبؓ بنت خزیمہ، سیدہ زینبؓ بنت جحش سیدہ حفصہؓ بنت سیدنا عمر فاروقؓ

## زامن

سیدنا قاسمؓ و طاہرؓ
سیدنا ابراہیمؓ سیدنا عبد اللہؓ

## لورگانی

سیدہ زینبؓ زوجہ سیدنا ابو العاصؓ سیدہ رقیہؓ زوجہ سیدنا عثمان ذوالنورینؓ سیدہ ام کلثومؓ زوجہ سیدنا عثمان ذوالنورینؓ سیدہ فاطمۃ الزہراؓ زوجہ سیدنا علی المرتضیٰؓ

## لمسیان

سیدنا علیؓ بن سیدنا ابو العاصؓ
سیدنا عبد اللہؓ بن سیدنا عثمان غنیؓ
سیدنا حسنؓ بن سیدنا علی المرتضیٰؓ
سیدنا حسینؓ بن سیدنا علی المرتضیٰؓ

## لمسیانی

سیدہ امامہؓ بنت سیدنا ابو العاص زوجہ سیدنا علی المرتضیٰؓ
سیدہ کلثومؓ بنت سیدنا علی المرتضیٰؓ زوجہ سیدنا عمر فاروقؓ
سیدہ زینبؓ بنت سیدنا علی المرتضیٰؓ زوجہ سیدنا عبد اللہ بن جعفرؓ
سیدہ رقیہؓ بنت سیدنا علی المرتضیٰؓ (بچپن میں وفات پائی)

## خلفاء راشدین

| | | |
|---|---|---|
| خلیفہ اول | بلا فصل امام صدق وصفا سیدنا ابو بکر صدیقؓ | مدت خلافت ۲ سال (۳) ماہ ۱۹ دن |
| خلیفہ دوم | امام عدل و حریت سیدنا عمر فاروقؓ | مدت خلافت ۱۰ سال (۱۱) ماہ ۴ دن |
| خلیفہ سوم | امام جود و سخا سیدنا عثمان ذوالنورینؓ | مدت خلافت ۱۱ سال (۱۱) ماہ ۱۲ دن |
| خلیفہ چہارم | امام شجاعت و ہیبت سیدنا علی المرتضیٰؓ | مدت خلافت ۴ سال (۹) ماہ ۲۳ دن |


دا کتاب بغیر له څه بیې یعني (مفته) تر لاسه کولو لپاره په لاندیني نمبر اړیکه ونیسئ!!!

مکتبہ الطارق کابل افغانستان / مدیر حافظ طارق 0786948599